محسن

د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

۹۳

د «ضحی» سورت تفسير

په پښتو

ژباړه او څېړنه :

احمد حسين عنايت

د ضحی سورت تشريح

ژباړه او څېړنه:

احمد حسين عنايت

بسم الله الرحمن الرحيم

د لوراند او لورين الله په نامه

سورةالضحی

د ضحی سورت (۹۳)

د «ضحی» سورت مکي دی (۱۱) آيتونه يوه رکوع لري په تلاوت کې (۹۳) په نزول کې (۱۱) سورت دی د «فجر» له سورت څخه وروسته نازل شوی دی

له مخکېني سورت سره يې اړيکه:

د تلاوت په لړ کې له دې څخه مخکينی سورت «ليل» دی ددې سورت ورته والی له مخکيني سورت سره ډېر څرګند دی او داسې ښکاري چې د مخکيني سورت د موضوع تسلسل او بشپړوونکی وي. په مخکيني سورت کې د امت په اړه ذکر وو او دلته د حضرت رسول په اړه دی.

د «ليل» سورت د « وَلَسَوْفَ يَرْضَى » له آيت سره پای ته رسيږي او په آخرت کې د متقيانو او پرهيزګارانو د هڅو له پايلې د هغوی په آخري او وروستني «رضايت» ټينګار کوي، او د «ضحی» سورت له دې رضايته نمونه، بېلګه او مصداق، تأويل او تحقق د الهي مخلوق د غوره ترين، يعنې حضرت محمد مصطفی (ص) په اړه د «وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى» له جملې سره څرګندوي. په هغه سورت کې په يو تولېز بيان سره، الله ته د آخرت او لومړني پيدايښت پر حتمي او له شک پرته تعلق او اړيکه ټينګار کوي « وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولَى » او په دې سورت کې خاص پخپله د حضرت رسول اکرم په اړه د پيل او ابتدا په نسبت د آخرت د بهتروالي، څرګندونه کوي. « وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَكَ مِنَ الْأُولَى». د «ليل» په سورت کې د متقيانو د لوړ ليد او اوچت نظر څرګندونه کوي چې اړمنو او نيازمندانو ته په انفاق کې د هغوی له لوريې کوم «نعمت» او بدل ته په تمه او سترګې په لار نه دي «وَمَا لِأَحَدٍ عِنْدَهُ مِنْ نِعْمَةٍ تُجْزَى » د ضحی په سورت کې له ربوبي ځانګړي «نعمت» څخه چې د تقوا په پايله کې حاصليږي د شکر او تسل لپاره د يادونې ذکر کوي « وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ». هلته له هاغې هدايتي دندې چې الله پر خپله غاړه اخېستې ده يادونه کوي «إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَى» او دلته د هغې له عيني او شاهدې نمونې څخه يادونه کوي « وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَى ».

د مخکيني سورت په سوګندونو کې له شپې او ورځې [په انفعالي اړخ کې] هغه مهال چې [خيزونه] پټوي يا ځلوي او رڼوي نښانه راوړي « وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى ، وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّى » او ددې سورت په سوګندونو کې [له فاعلي اړخه] اصل نور او رڼا ته يې [نه اغېزو او آثارو ته يې او د لمر په نسبت د ځمکې موقعيت ته] اشاره کوي « وَالضُّحَى ». لکه د هدايت د لمر په وړاندې، د خلکو د موضع او

موقعیت پرتله د هاغه نور او رڼا په نسبت چې له هغې خپرېږي [نبوت]. که په ټولیز حالت کې، شپه ټول خیزونه، او کافر، د حق نور پټوي « وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَىٰ »، [په خپله د پیغمبر] په خاص حالت کې، شپه د سکون او هوسایښې له اړخه چې د استراحت او د ځواکونو د تجدید لپاره مطرح کېږي «وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَىٰ » ددې لپاره چې د سورت د سیاق له تناسب سره چې پیغمبر ته د ځانګړو ربوبي لطفونو ذکر دی، ډېر هم غوره اوسي. ځکه چې هلته غائبو وړ او شایستګانو ته د الله د مضاف ربوبیت خبره ده «إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَىٰ» او دلته دهغه یو حاضر مصداق ته د مضاف ربوبیت مکرره خبره ده: «مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ ... وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ ... وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ ...»

او په پای کې په دواړو سورتونو کې له «غنا»[بې نیازه کوونکي مال] څخه یادونه کوي، خو لکه څنګه چې ددې دواړو سورتونو په نومونو کې [لیل = شپه. ضحی = د نور او ورځې ځلا او رڼا] ښکاره تضاد او تقابل دی، مال او ثروت د یو شمېرکسانو لپاره له حق څخه بې نیازي او هلاکت رامنځته کوي «وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَىٰ ـ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَىٰ» او ځېنو کسانو لکه پیغمبر ته تشکر او تقرب دی. «وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ ».

په لاندیني جدول کې ددې دوو سورتونو ورته آیتونه او مفردات ښوول کېږي.

	موضوع	د «لیل» سورت	د «ضحی» سورت
۱	سوګندونه	وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَىٰ ، وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ	وَالضُّحَىٰ ، وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَىٰ
۲	آخرت او اولی	وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولَىٰ	وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَكَ مِنَ الْأُولَىٰ
۳	راتلونکی رضایت	وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ	وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ
۴	نعمت	وَمَا لِأَحَدٍ عِنْدَهُ مِنْ نِعْمَةٍ تُجْزَىٰ	وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ
۵	غِنی	وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَىٰ،..وَمَا يُغْنِي	وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ
۶	هدایت	إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَىٰ	وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ

د سورت د مضمونونو محور او محتوی:

د دې سورت محتوا، د هغه د نوم او لومړني سوګند سره متناسب د لمر له تدریجي پورته کېدو سره «والضحی»، د پیغمبر پر قلب د الهي وحی د وخت په وخت ظهور { وصل او قطع } له بریښنده ځلا سره او د انسانانو د عالم په افقونو کې د نبوت د نور په تدریجي ځلا او ځرګندېدنه اړه لري او پر هاغه سپېڅلي او پارسا پیغمبر د ربوبي ځانګړو لطفونو او پاملرنو پر محور ټېکاو ده.

لکه څنګه چې د لمر نور ورو ورو په تدریجي توګه راپورته کېږي چې سر تر سره نیمه کره ټوله په خپل یون او پرله پسې توب او تداوم کې نغاړي، ربوبي لطف او رحمت هم په تدریج او منظم ترتیب د پیغمبر د وجود مناسبې، برابرې او چمتو شوي برخې نیسي او د هغه د نفس نیالګی د فضایلو په فضا

کې راپورته کيږي او وده کوي. په دې ترتیب هغه څه چې په دې سورت کې پرې ټينګار شوی دی، يو ثابت او ټاکلی لطف او رحمت نه، بلکه د هغه استمرار او ادامه په مهالي مختلفو مقاطعو کې [له پيله تر پايه] ده او لکه د لمر د تدريجي پورته کېدو په څېر، د هاغه سپېڅلي او اطهر پيغمبر په روحي زمينه او تړاو ددغه خاص او ځانګړي نعمت بشپړېدل ننداري ته ايږدي. درې ځله د الله له تېرو لطفونو يادونه کوي، درې ځله هم له اوسنيو او راتلونکو لطفونو، او درې ځله هم له هاغو ژمنو او مسئوليتونو يادونه کوي چې پيغمبر او د هغه لارويان يې ددغو نعمتونو په وړاندې لري. لکه څنګه چې مخکې وويل شول، د «ليل» په سورت کې يو شمير اصول او معيارونه مطرح کوي چې انسان له هغوی سره په هم غږۍ، آسانۍ [يسر] ته او له هغوی سره په تضاد، سختۍ [عسر] ته رسيږي. په دې سورت کې ددې موازينو او معيارونو مشخص مصداق او عيني تحقق د يو مشهود شاهد په توګه لکه د حضرت نبی اکرم په وجود کې څرګندوي، چې الله څه ډول د بخشش، تقوی او تصديق اهل ته کار آسانوي او هغوی هدايت، نعمت او رضايت ته رسوي دا د الله خاص بنده چې د يتيمۍ او غريبۍ په کوره او بتۍ کې ښه پوخ شوی وو، اوس دادی د هغه د خالصانه عملونو او کړنو له لامله يې خاص لطفونه په برخه کيږي او د وحی د نزول مهبط او وړ ګرځي. نو په دې ترتيب دا سورت، د «ليل» د سورت د الهامونو تأويل او د هغه د ژمنو او وعدو تحقق ګڼل کيږي.

په دې سورت کې د هغه له لنډيز سره سره [۱۱ لنډ آيتونه]، ۹ ځله د «ک» مخاطب ضمير او ۴ ځله د امر فعل [پيغمبر ته خطاب] کارول شوی دی، چې په نورو سورتونو کې دا ډول نسبت لېدل کيږي. چې دا مسئله حضرت رسول ته ربوبي نهايي عنايت او پاملرنه څرګندوي.

ګواکې د رسالت په پېر کې د وحی د لنډمهالي ځنډ او تمېدنې او د حبيب او محبوب د اړيکې لنډ بېلتون، د الله رسول ته تشويش او خوابدي پيدا کړې وه چې د دا ډول آرام ښنونکي ډاډګېرنې لامل شو. د الله حبيب له دې چې داسې نه چې د بې مهرۍ او د معشوق د ترک وړ شوی وي، پريشان وو نو محبوب ورته ډاډګېرنه ورکوي چې نه يې ترک کړی دی او نه له هيچا سره دښمني کوي [خپل ځان دې لا څه کوې چې له هيچا سره]. که د هاغه آشنا په الهام، او د وحی په القاء کې کوم فترت، واټن او ځنډ راغلی، يو حکمت پکې دی چې د هغو لومړنيو درندو القاء ګانو [د علق او مدثر او ...سورتونو] پسې، آرامتيا او هوساينه ومومې او د ډېرو درندو بارونو تحمل او لېږد ته چمتو شي [إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا] [المزمل ۵(۷۳:۵)] موږ به ډېر ژر درنده وينا تاته القاء کړو [لازمه ده چې له شپېنيو تمرينونو او تمرکز سره ځان جوړونه وکړې او تياری ونيسې]. يو فرصت دی چې د وحی هغه مهبط او منزل د الهامونو له درانده فشاره آسوده شي او قلب او قدم يې استوار او ګامونه يې پاخه شي:. ...كَذَلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا.[الفرقان ۳۲(۲۵:۳۲)] [هو] دا ډول ده [له دې لامله تاته سوکه او ورو ورو نازليږي] چې ستا زړه پرې استوار کړو او [له دې لامله] هغه مو تاته په تدريج او ځنډ ځنډ ووايې. إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْئًا وَأَقْوَمُ قِيلًا [المزمل ۶(۷۳:۶)]. بې له شکه په شپه کې

څرګند شوی [له تلاوت او تذکر څخه حاصل روحي تحول په ورځ کې د حق په لار کې] د کلکو او محکم تروګامونو اېښوولو او استوار ترې وینا لامل کېږي.

دا د پالونکي «رب» تقدیر او تدبیر وو چې د بندګانو له تربیت څخه مخکې یې خپل خاص بنده له جسمي او روحي لیده تر اغیز لاندې راوړه او د هغه اند او غږي، روح او جسم او ځان یې ورته له دې نابېره غورځنګ، تغییر او اووښتون سره برابر او هم غبرګ کاوه. مګر داسې نه ده چې د هغه حکیمانه مشیت او غوښتنه تل د سببونو او طبیعي لاملونو په مجرا کې جریان مومي او استعدادونه د زمان په بستر کې په تدریج، ورو ورو په ځنډ ځنډ فعلیت ته رسوي، نو ولې د دا ډول استعداد رشد، وده او کمال نابېره او د نورو ښکارندو د تدریجي کمال له عمومي مجرا او تګلارې څخه بېل، دباندې او خارج بڼه ونېسي؟. که د وحی او نبوت لمر په هماغو قانونو کې شامل دی چې د شمسي منظومې لمر وروپورې تړاو لري، خامخا طلوع او غروب یې هم، هماغه حکمت لري چې لکه څنګه چې د شپې او ورځې تناوب یې لري. سره له دې چې زموږ له درک څخه غائب او پټ دی.

او دادی د تیارې او یوازېتوب د شپې له تېرېدو وروسته، د پالونکي رب د تقدیر او تدبیر لاس، یو ناسمبالی اړمن او نیازمند یتیم چې د هاغې روزګار د حیرت او هک پک تیا په بیابان کې یې، د واکمن جهالت او ظلمت له بې لاریو څخه د نجات او ژغورنې لار لټوله، له ځانه سره نیسي او هغه چې د دردونو. کړاوونو او رنځونو د ازموینو په بټۍ کې پوخ شوی وو، د نورو د هدایت لپاره ټاکي او لېږي. اوس هغه کریم یتیم، یتیمانو ته د محبت او مینې درس (فاما الیتیم فلا تقهر)، د نیازمندانو سره مدارا (و اما السائل فلا تنهر) او د ربوبي نعمتونو پرله پسې یادونه (و اما بنعمة ربک فحدث) د نور او ځلا د لارې لارویانو او پلیونانو ته ورزده کوي. او پر موږ د الله ځانګړې لورینه ده چې د هغه د لارې په لاروي توب او له سنتو په تبعیت او پلیونۍ یې له تیارو څخه د نور او رڼا په لور خارج شو. ځکه چې:اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ.... [(البقره (۲: ۲۵۷)]. الله د هغه چا ولي [سرپرست او پالونکی] دی چې ایمان یې راوړی دی، هغوی [تل د شرک، کفر، جهل او ځور] له تیارو د [ایمان او اخلاص] د رڼا په لور خارجوي.....

د «ضحی» او «انشراح» سورتونه ډېریو، یو سورت ګڼلی، البته د دواړو سورتونو ترمنځه د «بسم الله» په نه ویلو سره په پرله پسې توګه په «ضحی» پسې د «انشراح» سورت وایي په لمانځه کې کولی شې هر دواړه سورتونه په یوه رکعت کې ووایي. یعنې تر دې کچې یو تر بله اړیکه لري چې یو ګڼلی شي.
د قرآن د ځینو سورتونو یو تر بله اړیکې ډېرې نژدې دي چې یو ګڼل شوي دي؛ لکه اتم او نهم سورتونه، «انفال» او «توبه».

ځینې سورتونه یو په بل پسې د یوه مطلب بیانوونکي دي، زیات نه زیات له دوو یا څو متفاوتو زاویو څخه. دا دواړه سورتونه د پیغمبر په اړه دي او هر دواړه د بعثت د دویم کال په پیل کې نازل شوي دي.

لومړی «والضحی» او بې له ځنډه وروسته ورپسې « انشراح». په بله وينا، د نزول په ترتيب کې دا دواړه سورتونه يو په بل پسې نښتي دي. په لومړي سورت کې د خبرې مخه پيغمبر ته ده او د «کَ» (ته، تا) ضمير حضرت رسول ته خطاب لس ځله پکې تکرار شوی دی، لکه: وَدَّعَکَ، رَبُّکَ، خيرٌلکَ، يُعطيکَ، يَجِدکَ، وَجَدکَ، درې ځله نيغ په نيغه پيغمبر ته خطاب شوی دی: فلا تَنهَر، فلا تقهَر، فَحَدِّث. په ورپسې سورت (انشراح) کې، هم پيغمبر نهه ځله د وحی مخاطب شوی دی. دا دوه سورتونه، په واضحه او څرګنده بڼه، د پيغمبر په نسبت د پالونکي رب بې نهايته لطف، محبت او عنايت څرګندوي. د «ضُحی» په سورت کې خبره دپيغمبر د ماشومتوب، زلميتوب او ځوانۍ د دوران په اړه ده. په ورپسې سورت کې له هغه دورانه خبره کوي چې پيغمبر رسالت ته رسېدلی دی او له ستونزو سره مخامخ شوی دی.

د «ضُحی» سورت د نزول شأن:

د «ضُحی» سورت، د وحی په لېږلو کې د تعطيل او ځنډ له يوه دوران وروسته، چې د وحی د «فَتَرت» په دوران معروف دی، يعنې هغه دوران چې وحي د يوې مودې لپاره ځنډول شوې او قطع شوې وه نازل شوی دی. د پيغمبر رسالت د علق سورت د هماغه پنځه آيتونو له نزول سره پيل شو او تر څو نورو مياشتو پورې پر پيغمبر وحی رانغله. هغه پنځه آيتونه، لومړني الهي پيغامونه دي:

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ. خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ. اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ. الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ. عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ. [العلق ۱– ۵ (۱ - ۹۶:۵)]. ولوله د خپل پالونکي رب په نامه، هغه چې [هر څه يې شته کړل او] و يې پنځول. انسان يې له علق [ځوړندې پرنډې وينې] پيدا کړ. ولوله چې ستا پالونکی رب [تر ټولو] ډېر کريم [او عزتمن] دی. هغه [پالونکی] چې د قلم [د کارونې] په توسه يې ښوونه کړې ده، انسان ته يې هغه څه وروښوول، چې پرې نه پوهېده.

لومړنۍ وحی تر همدې ځايه پای ته رسېږي. پيغمبر هغه مهال چې دا ندا او پيغام مومي، ډېر سخت وارخطا او مشوش کيږي، ځکه چې نه پوهېده څه ورته پېښ شوي دي. د حرا له غاره ډېر په بيړه، وېره او تشويش کې له دې چې هسې نه چې په ماليخوليا يا بې خودۍ اخته شوی وي، په داسې حال کې چې له سختې سړه لرې تبې لړزېده کورته راستنيږي، په داسې ډول چې مېرمن يې حضرت خديجه، په تشويش کيږي او پټو راوړي او حضرت رسول پکې رانغاړي. او د همدغه تشويش په حالت کې، د «مزّمّل» سورت نازليږي: يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ. [المزمل ۱ (۱:۷۳)] يا هم شايد د «مُدثّر» سورت. «مزّمّل» يعنې هغه چا چې اغوستن له ځانه تاو کړی وي. او «مُدثّر» يعنې هغه څوک چې د خوب په اغوستن کې ويده دی. يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ. قُمْ فَأَنذِرْ. [المدثر ۱ – ۲ (۱ـ ۲:۷۴)] ای د خوب په اغوستن کې ويده، پاڅه! اوچت شه او وېره ورکړه؛ انذار وکړه.

د تاریخ له مخې دومره ډېر څرګند نه دی چې له دې دوو سورتونو یا شاید هم له ځېنو نورو سورتونو وروسته، چې پس له دوی راغلي د څه مودې لپاره د وحی په نزول کې ځنډ راغلی دی. په هر حال، ډېره زیاته موده نه وه. خو په دې اړه راز راز روایتونه راغلي دي، دولس ورځې، پنځلس ورځې، نولس ورځې، پنځه ویشت ورځې او ځېنو څلوېښت ورځې نقل کړي دي. د سیر تحول قرآن د کتاب د محاسباتو پر بنسټ، چې د ریاضي د شمېر او د هر سورت یا د هر سورت د مختلفو برخو د نزول د شمېر له لارې یې څېړلي دي، د «ضحی» سورت کابو د وحی له یو کال ځنډ وروسته نازل شوی دی. نو په دې موده کې حضرت رسول اکرم ډېر په تشویش او پرېشان وه چې ولې وحی پرې نه نازلېږي. ښکاره خبره ده داسې یو عاشق چې د خپل معشوق او محبوب سره یې اړیکه پیدا کړې ده او یو وصال هم ورته حاصل شوی دی، زړه یې تنګیږي او نا آرامه کیږي، احساس کوي معشوق ترې لېرې شوی دی. په ځانګړې توګه په داسې یو حالت کې چې خپل رسالت او د وحی پیغام یې خپلو شا او خوا اطرافیانو ته لېږدولی وو. په دې ترتیب د وېرې، وحشت او یوازېتوب احساس د پیغمبر د وجود سر تر پایه ټول نیولی وو. کابو ټول مفسران، او هم هغه روایتونه او اخبار چې په دې اړه راغلي دي، ټول له دې حکایت لري چې ددې دواړو سورتونو نازلېدل د فترت له دوران څخه وروسته او د پیغمبر د تسل او ډاډګېرنې او ددوی د روحي تقویت لپاره دي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وَالضُّحَى ﴿١﴾

سوګند پر ځاښت [غرمې، د ورځې پر رڼا او د لمر پر ځلا] [1] [= د ورځې په پیل کې د لمر د نور ځلېدل او خپرېدل]

وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى ﴿٢﴾

او پرشپه هغه مهال چې تیاره [او آرامتیا] یې، ټول ځایونه ونغاړي [او شومه دم شي]. [2]

دا سورت له دوو سوګندونو سره پیلیږي: سوګند پر لمر او د ورځې پر څرګندېدو. وَالضُّحَى. «ضُحی» یعني د لمر رڼا، د لمر ځلا. دا یو سوګند، دویم، وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى. قسم پر شپه هغه مهال چې خپرېږي یا ټول ځیزونه پټوي او نغاړي. «شپه» هماغه پیل ته یې ویل کیږي چې د لمر پرېوتو پسې سمدلاسه پیل کیږي او هوا ورو ورو مخ په تیاره غونې شي، او کله چې یو یا دوه ساعته له غروب تېر شوي وي چې تیاره په بشپړه توګه

برلاسي شي او شپه آرامه شي او په اصطلاح شومه دم شي، او په عربي کې ورته «سُجُوّ» وايي،«سَجا اللّيل» يعنې شپه له خپلې تياره سره هر څيز پټوي. نو يو سوګند هم د ورځې د نور پر ځلا او وړانګو او يو هم د شپې پر تياره او ظلمت دی. دا دواړه پديدې او ښکارندې يو تر بله متضادې دي. له بل لوري ورځ د کار او هڅو مهال دی او د هغې په پای کې، کله چې له ورځني کار څخه ستړي شوي يو او وروسته له هغې چې د هوا تياره هر ځای ونيسي، د تن او ځان د استراحت او هوساينې او د ستړيا د لېرې کولو مهال رارسيږي. نو، دا دوه آيتونه د دوو داسې مطلبونو د بيان په مقام کې دي چې يو د بل په تناوب او تداوم کې دي.

يا په بل عبارت داسې ويلی شو چې قسم پر دغو دوو څيزونو يوه اشاره لري او هغه داده چې دلته د ورځې په پيلامه او ځابنت او شپه سوګند خوري ددې لپاره چې د پيغمبر هغه حالت چې د وحی لمر پرې ښکاره شوی دی او بيا ورپسې يې خپله څيره پټه کړې ده، د لمر ظاهري او جسماني ښکاره کېدو او بيا هم ورپسې، د شپې راتګ ته ورته دی. په حقيقت کې فرمايي: پر تا د وحی په ضحی او د وحی پر طلوع سوګند او له تا څخه د وحی پر پټېدو سوګند. په حقيقت کې دلته غواړي چې دا نکته پيغمبر اکرم ته ووېل شي چې د وحی د برېښنا ځرګندېدل او بيا وروسته ددې برېښنا نه ځرګندېدل او دا چې ته د يوې مودې لپاره له وحی جلا پاتې شي له دې مسئلې سره هيڅ اړيکه نه لري، چې ته دې الله ور نه وې بللی، پرېښی يې اوسې، او د غضب لاندې يې نېولی اوسې ، بلکه دا يو منظم حساب لري؛ لکه څنګه چې په مادي او جسماني عالم کې که لمر راخېژې او طلوع کوي او ورپسې شپه راځي، شپه د غضب علامت او نښه نه ده بلکه دا شپه هم د ورځې تر څنګ اړينه ده، د وحی دا تمېدل او ځنډېدل او دا روحي شپه، ستا لپاره اړينه او ضروري ده او بايد داسې واقع شوي وای.

په اروا پېژندنه کې د يوې جملې ذکر کوي چې ښايي دلته هم د تطبيق وړ وي عجيبه جمله ده؛ وايي: «انسان په اوږي کې سکي زده کوي او په ژمي کې لامبو»، سره له دې چې قضيه ددې پر عکس ده او انسان د سکي لوبه په ژمي کې کوي او په اوړي کې لامبو کوي. مقصد دادی چې: په ټوليزه توګه دا د انسان لپاره يو رواني او اروايي خصلت دی چې کوم مهال چې له يو کار سره مخامخ کېږي په پيل کې پر هغه کار منطبق او د هغه کار لپاره چمتو نه دی، خو که د يوې مودې لپاره دا کار تمرين کړي او بيا يوه موده تمرين ونکړي،

د هاغې مودې په خلال کې چې تمرين نه کوي روح يې په خپل باطن کې، خپل ځان دغې نوې واردې شوې کړنې ته چمتو کوي پرته له دې چې د انسان پام ورته وي. انسان په ژمې کې سکي کوي او په اوړي کې يې پرېږدي خو داسې خيال مه کوئ چې په اوړي کې د انسان روحي حالت د هماغه وخت په څېر دی چې اصلاً يې سکي نه کاوه، بلکه په دې منځ کې خپل روح دې تازه وارد لپاره چمتوکوي. د انسان په بدن کې له دې چې يو ژوندی موجود دی او د انسان روح چې د حيات جوهر دی، په دواړو کې دا ډول يو خصلت شته. له وحی سره د مخامخ کېدو مسئله هم همدا ډول يو څيز دی. وحی د لومړي ځل لپاره په څلوېښت کلنۍ کې پر پيغمبر نازله شوه، وروسته له ډېرو کلونو زيار او تمرين چې په اصطلاح د هغه د تحنّف او عبادت دوره وه. کومه وحی چې پر پيغمبر نازلېده له هغو وحيو جلا وه چې پر نورو پيغمبرانو نازلې شوې وې او د وحی ډېره سخته درنده درجه کې ده، په داسې ډول چې کله لومړنۍ وحی پرې نازلېږي په داسې ډول سخته او درنده وه چې لکه خپل تعادل يې له لاسه ورکړی وي، کله چې په بېره کورته راستنېږي په پرله پسې توګه خدېجې ته وايي «ما پټ کړه غواړم استراحت وکړم» ته به وايې چې ډېر زيات دروند پېټی يې ورته پر اوږو ايښی دی. سره له دې چې دا بار، روحي او معنوي دی، خو روحي بار هم د انسان تن ستړی کوي.

په دغه موده کې چې پيغمبرته د وحی راتګ ځنډ شوی وو او وحی تم وه سمدم لکه د شپې په څېر يو حالت لري چې د هوساينې او ارامتيا دوره ده؛ يعنې اوس دې د يوې مودې لپاره راحت او آرام پرېږدو چې ښه پوخ او چمتو شې. دا له تا څخه د وحی د پرې کېدو په معنا نه ده، بلکه په دې معنا ده چې د وحی د دوه درې ضربو [ګوزارونو] وروسته چې پر تا راغلل او ته يې له ځانه بې ځانه کړې، د يوې مودې لپاره بايد آرام او دمه وکړې. په دې دوو قَسَمونو کې او له دې وروسته يې واقعاً د خبرې تعبير، د ښکلې مينې او عطوفت، او د محبوب د مرحمت او محبت، او نغاړونکي خوښۍ، په زړه پورې زمزمه او سرود بيان کړی دی. دا مهر او عطوفت، مينه او لورېينه، دا مرحمت او محبت، دا خوښي او رضا، او آهنګ او سرود ټول او دا ټول له منظمو او لطيفو عبارتونو، او له نرمو او ظريفو وييونو، چې موسيقي يې د زړه راښکونکو انګازو لرونکي ده، څرګندېږي. چې دا ټول زړه راښکونکي غږونه او انګازې هربند يې د مينې محبت، هيلو او ارزوګانو، تسل او ډاډګېرنې، پېرزوېنو او لورينو، او د انسان جوړونې او د انسان د ودې او تکامل بار او

درس له ځانه سره لېږدوي.... کله چې سپېڅلې رب غوښتې د دغه ښکلې او زيبا مينې او مهربانۍ، او ددې نغاړونکي خوښۍ او رضا، او د دغه آهنګ او زړه راښکونکي سرود لپاره چوکاټ جوړ کړي، دا چوکاټ يې د ورځې له روڼ ځاښت، او تياره شپې له شومه دم څخه غوره کړی دی، دوه داسې مهالونه چې د شپې او ورځې له ټولو مهالونو ډېر صفاتر، او ډېر سوتره تر مهالونه دي چې په هغوی کې تدبّر او تفکّر ګل کوي، غوړېږي او بټه نيسي، او روح له هستۍ او د هستۍ له رب او پنځوونکي سره اړيکه مومي، او عبادت او د ټول جهان په توسه د الله نمانځنه احساسوي. او مومي چې ټول جهان له تسبيح، تقديس، خوښۍ او سپېڅلتيا سره د الله په لور مخه کوي. پاک رب شپه او ورځ په مناسبو الفاظو انځور کړې ده. او شپه: وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى دلته نو شپه په عامه او کلي توګه موخه نه ده. ځکه چې شپه يو مهال تورتم او ډاروونکې ده. بلکه د شپې هغه مهال مقصد دی چې آرامه وي او تياره شوې وي، شومه دم شي او ټول ځايونه ونغاړي. د شپې دا وخت په زړه پورې، ارام او صفاتر دی.

سپېڅلی رب د خپل شناخت او پېژندنې پر دوو نښو او آيتونو سوګند خوري، پر ښکلو او الهام ببنونکو نښو. د جهان ځرګندې پديدې د انسان له دننيو احساساتو سره نښلوي. د انسان زړه ته د آګاهانه او له دې ژوندۍ ښکلې هستۍ سره د هم غږې ژوند الهام کوي، هغه ښکلې او زيبا هستي چې له هر ژوي سره مينه او عطوفت لري. په پايله کې د انسان زړه له دې هستۍ سره په انس او الفت ژوند کوي. په دې جهان کې نه وېرېږي او نه وحشت کوي. او نه، غريب، بې ټاټوبي او تنها کېږي ... په دې سورت کې په ځانګړې توګه دا انس او الفت په ځرګنده توګه خپل اغېز او تاثير لري. د انس او الفت غځېدل موخه ده. ګواکې سپېڅلی الله د سورت په همدغه پيل کې وحی کوي چې پالونکي رب يې په دې جهان کې د هغه ګرد چاپېره انس او الفت شيندلی او خپور کړی دی. او له دې لامله نه ورسره جفا کېږي او نه يوازې پاتې کېږي. له دې الهام او جهاني پيغام وروسته، مستقيم او نېغ په نېغه تأکيد، ټينګار او ډاډګېرنه رسيږي:

۱ـ د «فجر» طلوع او ځرک د شپې د تياره پای او «صبح»، د ورځې تولد او تنفس [وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ – تکوير ۱۸ (۸۱:۱۸)] او د طبيعت له ښکلا د پردې لېرې کېدل او تفسير دی [وَالصُّبْحِ إِذَا أَسْفَرَ – مدثر ۳۴ (۷۴:۳۴)]. د صبح [ګهيځ] په ساه اخيستو هوا روښانه کېږي، خو له افق څخه د لمر په

څرک وهلو، د لمر د نور په تدریجي پراختیا ټول ځایونه تاوده او نوراني کوي. «ضُحى» هغه مهال ته ویل کېږي چې د لمر وړانګې د دښتې پراخوالي ته خپرې شوي وي.

۲ـ که د فجر له طلوع څخه د لمر تر ختو او ځلېدو پورې یو ټاکلی زماني واټن دی، د لمر له پرېوتو څخه د شپې تر بشپړې تیاره پورې هم له یوه ساعته ډېر وخت نیسي.«وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى» سوګند پر همدغه مهال دی چې ته به وایي ظلمت او تیاره [لکه د باطل جنګ له حق سره] پر رڼا له غلبې سره سم، پر ځمکه هستوګنه شوې او په تېل شوي بشپړ او مطلق تورتم کې یې آرام کړی او تیاره پردې یې ټول ځایونه نغاړلي دي[وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى–لیل۱ (۹۲:۱)].

سوګند د لمر پر طلوع او د ورځې پر بشپړې او کاملې رڼایې، له دې وروسته سوګند پر شپه هغه مهال چې آرامېږي او ژوي د استراحت لپاره او د ورځې له ستړیا د استراحت او هوساینې لپاره خپلو ځالو، جونګړو، ماڼیو، خېمو او کورونو ته ځي، د طبیعت او نبوّت او د وحي د نزول تر منځ یوه سریزه، مقایسه او پرتله ایزه کړنه ده چې په هغه کې لنډمهالی ځنډ، تعطیل او تناوب یو طبیعي امر دی. الله تعالی د شپې تیاره پرده د آرامتیا او سکون لپاره یو پوښښ، او ورځ یې د هڅو، تلاش او یون لپاره مقرر کړې دي: «هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا...»[یونس ۶۷ (۱۰:۶۷)]. لکه څنګه چې الله تعالی شپه د استراحت او خوب لپاره یو پوښښ او د ورځني کار د تعطیل او دمې وسیله ګرځولې ده: «وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِبَاسًا وَالنَّوْمَ سُبَاتًا...» [فرقان ۴۷ (۲۵:۴۷)].

له لمر پرېوتو څخه وروسته او له مطلقې او بشپړې تیاره څخه مخکې مهالونه هم د ډېر عبرت او پند او د زده کړې وړ دي او الله تعالی پر دې مهال هم سوګند خوړلی دی:«وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ» [تکویر ۱۷ (۸۱:۱۷)]، همدا راز یې په مقابل لورکې، د فجر له طلوع څخه مخکې د تیاره په نری کېدلو سوګند خوړلی دی: « وَاللَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ » [مدثر ۳۳ (۷۴:۳۳)]، همدا ډول «وَاللَّيْلِ إِذَا يَسْرِ » [فجر ۴ (۸۹:۴).
په طبیعت کې د نور او ظلمت، د رڼا او تیاره تحولونه لکه په تاریخ کې د حق او باطل، عدالت او ظلم د تحولونو په څېر دي.

مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى﴿۳﴾

[چې هیڅکله] پالونکي رب دې، ته پرېښی نه یې او نه[درسره خوابدی او] بې مینې شوی دی.(۳)

وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَكَ مِنَ الْأُولَى﴿۴﴾

او هرومرو آخرت [= راتلونکی او پای] به درته تر اول [دنیا، یا د رسالت تر ړومبني وخت] غوره وي. (۴)

وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى ﴿۵﴾

او خامخا بې له شکه ستا پالونکی رب به ژر [دومره] درته عطا کړي [او درکړي]، چې راضي [او خوښ] شې. (۵)

خو کومه پایله او نتیجه چې غواړي واخلي: لومړی دا چې مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ. «وَدَّعَ» له «وداع» سره له یوې ریښې دی. «وداع» یعني لېږې والی، وداع له یو چا سره یا له یو څیز سره، یعني له هغه لېرې کېدل. وداع کله د تل لپاره وي او کله لنډ مهالي وي. «ما» هم د «لا» په معنی دی. «مَا وَدَّعَكَ» یعنې رب دې له تا سره وداع نه ده کړې او ته یې پرېښې نه یې. نو ولې په تشویش یې؟ ولې ناراحت یې؟ ولې غم خورې؟ یار دې در سره قهر نه دی کړی؛ ته یې ترک کړی نه یې. وَمَا قَلَى. له تا سره یې بدي هم نه ده کړې، پر تا غوسه نه دی. یو مهال دی چې تاسو یو څوک بې له دې چې ستونزه ورسره لرئ ترک کوئ، خو یو مهال له هغه خوابدي کېږئ او د هغه له لاسه ناراحت او غوسه کېږئ او له دې لامله یې ترک کوئ. فرمایي داسې نه ده، مه ناراحت کېږه. ستا رب ته پرېښې نه یې او نه له تا خفه دی او نه پر تا غوسه دی.

کله چې الله تعالی، هغه هم خپل پیغمبر ته خطاب، د سوګند له لحن سره خبره کوي ډېر د پېرزوینې او مهربانۍ بوی ورکوي. ددې سورت لحن په ډېره اوچته سطحه د پېرزوینې او عطوفت سره ګډ دی. سوګند د ورځې پر مهال او سوګند پر شپه چې د استراحت او دمې وخت دی چې پالونکي رب دې ته نه یې خوشې کړی او د غضب لاندې یې نه یې نیولی. فرمایي «رَبُّکَ»؛ پر دې پو هیږو چې د «ربّ» په مفهوم کې بشپړونه او پالنه ده. ستا پالونکی، مربی او بشپړونکی او مکمِل خدای، هغه خدای چې ستا پروردګار او پالونکی دی، هغه لاس چې تاته پالنه درکوي، ته یې پرېښې نه یې او د غضب لاندې یې نه یې نیولی. او له تا سره یې جفا نه ده کړې، لکه څنګه چې ځینو کسانو ګومان کاوه، هغوی غواړي چې ستا روح ته آزار ورکړي او ستا زړه په درد کړي، تا خوابدی کړي او خاطر دې پرېشان کړي ... هغه ستا پروردګار او پالونکی دی، او ته دهغه بنده او پر هغه پورې تړاو لرې، هغه ستا پالنه کوي او د خپل ملاتړ او ساتنې تر سیورې لاندې دې محفوظ او ژغورلی ساتي. هغه ستا ساتونکی او کفیل دی. د هغه د فضل، لطف، برکت، عطا او

بخښش چينه نه وچيږي. دا شوه لومړۍ پايله. او په دې پسې ورته وايي: ستا پايله به په پرله پسې توګه له وسمهال بهتره او غوره وي.

دويمه پايله: وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْأُولَى. «آخرت» له «آخِر» څخه دی او له «آخَر» سره توپير لري. «آخَر» يعنې «بل» يا «بَعد»، خو «آخِر» يعني انتها او پايان. «اُولی» هم يعنې اوّل. وايي آخِرت، يعنې هغه څه چې سبا يا په راتلونکي ورځ به راشي ستا لپاره به له نن ورځې څخه ښه او بهتر وي؛ يعنې هغه ستونزې چې وسمهال تاته پيښيږي دي، دا د مخالفتونو څپې، نښتې، کنځلې او زورلې، فشارونه، آزارونه، به ورو ورو مخ په لږيدو شي او وضع او چاپېريال به بهتر شي. «آخرت» ځينو دلته د آخرت او بل جهان په معنا، چې د دنيا په مقابل کې دی ګڼلی دی. خو دلته «آخرت» د «أُولی» يعنی «آغاز يا پيل» په مقابل کې دی، نه دنيا. وايي دا نهضت چې تا پيل کړی دی، په پيل کې به ډېرې زياتې ستونزې ولري، خو وروسته به ورو ورو ستونزې کمې او کمترې شي.

په «لَلْآخِرَةُ» کې، «لام» د ټينګار او تأکيد نښه او علامت دی. يعني په تحقيق سره چې هيڅ شک پکې نشته چې ستا انجام او پای ستا له آغاز او پيل څخه بهتر دی. د وحی له ځنډ سره پيغمبر ته دا تصور پيدا شو چې هسې نه چې دا لنډ مهالې معامله وه. البته د پيغمبر لپاره د وحی نازلېدل سخته او درنده تمامېدله خو ورته ډېره ښه او خوندره برېښېدله او په نه راتګ يې انديښمن وو. قرآن فرمايي: نه دا لنډمهالې معامله نه ده، ستا انجام او پای ستا له آغاز او پيل څخه بهتر دی. سره له دې چې پيل او آغاز دې ښه وو پايان دې هم له دې ډېر بهتر دی.
پالونکی رب دې ستا لپاره پانګونه کوي هغه څه چې تا به خوښ او خوشحال کړي. تا به د بلنې او دعوت په کار کې بريالی کړي. ستا د لارې بندونه او خنډونه لېرې کوي. ستا رسالت برلاسی کوي او ستا حقانيّت څرګند او ښکاره کوي.

دا هغه چارې وې چې د پيغمبر زړه يې بوختاوه. او په هغه حال او احوال کې چې د مشرکانو دښمنۍ، کينې، دروغ ګڼلو، آزار، ځورونو، مکر، چل او فريب سره مخامخ وو:
مخکې مو وويل «آخرت» يعني پايان او انجام، « اُولی» يعني پيل او ابتدا. کېدی شي دلته موخه په مطلقه توګه [پای او پيل] وي چې قهراً داسې معنا کېږي: ستا پای ستا له

پیله بهتره ده. قهراً د آخرت جهان دې له دنیا بهتر دی. [لنډه دا چې] هر څومره چې پر هغه لور ځې ستا لپاره بهتر دی. لېږې نه ده چې دلته موخه همدا عمومي معنا وي.

دريمه نتيجه: وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى. «سَوف» يعنې ډېر ژر. هغه يې د تأکيد او ټينګار له «لام» سره هم راوړی دی، يعنی حتماً او قطعاً او پرته له هيڅ شک او ترديده، يُعْطِيكَ رَبُّكَ ستا پالونکی رب به دومره درته عطاء کړي، ورکړه او بخشش به درته وکړي. فَتَرْضَى. په داسې ډول چې ته به ترې راضي او خوښ شې. که نن د ستونزو او مصيبتونو سره مخامخ يې او له دښمنانو سره اخته يې، پوه شه چې دا ټول به ډېر ژر پای ته ورسيږي او دا بشارت کېدی شي د خلکو له خوا د رسالت منلو او د رسالت په لار کې د ستونزو حل کېدو ته اشاره وي، يا کېدی شي هماغه د آخرت په معنا وي، په دې صورت کې وايي هېله من اوسه چې دا جهان چې لکه د بريښنا د چټکتيا په څېر تېريږي، يو آخرت هم ورپسې لري چې په هغه کې به ته د خپلو هڅو او زحمتونو پايلې او موخې ته ورسيږې. تر دې کچې چې تا به راضي او خوښ کړي.

نو پر دې بنا له دوو قسمونو وروسته درې مطلبونه او پايلې راغلې: « مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى» رب دې ته پرېښې نه يې، او پوه شه چې د لطف ، عنايت او پېرزوينې وړ يې. «وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْأُولَى.» نه يوازې دا چې د لطف او پېرزوينې لاندې يې لکه څنګه چې وې بلکه ستا آخَر ستا له اول څخه بهتر هم دی؛ يعنې له پخوا ډېر د لطف، عنايت، پېرزوينې او لورينې وړ يې. نو لومړی جمله غواړي ووايي اوس هم د پخوا په څېر عنايت او پېرزوينه له تا اخيستل شوې نه ده، او په دويمه جمله کې په دې مطلب ټينګار کيږي. خو ورپسې جمله کې مطلب د عنايت او پېروينې له ليده نهايي درجې ته رسوي: نه يوازې داچې خدای ته پرېښی نه يې او نه يوازې دا چې هر څو مره چې مخکې ځې او وخت تېريږي د هغه عنايت او پېرزوينه تاته له مخکې لا زياتيږي، بلکه الله به پرتا دومره پېرزوينه او لورينه وکړي چې نور به دالله له عنايت او پېرزوينو ډک شې؛ مطلب داچې خپلو ټولو هېلو او ارزوګانو ته به دې ورسيږي. «وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى» ستا رب به پرتا دومره عنايت او پېرزوينه وکړي چې ته راضي شې او ستا هغه هېله او ارزو [يعنې د هدايت هېله او ارزو] به پوره شي. چې دا ډېرته له هماغه مخکينې آيت «مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى» سره تړاو لري. چې د وحی بريښنا، بريښ کړی وو. د وحی بريښنا هماغه د

هدايت برېښنا وه؛ د نورو هدايت حتا د خپل ځان هدايت يې. الله به د وحی په توسه تا د بشر د هدايت لامل کړي [او دا هدايتونه به په آخرت کې د شفاعت په بڼه ځرګند شي] چې ته به پخپله راضي شي؛ يعنې هېلې او ارزوګانې به دې حاصلې او پوره شي.

موږ بايد وګورو چې قرآن د پيغمبر د دردونو، رنځونو او هيلو ارزوکانو په اړه څه ويلي دي. پيغمبر له څه څيز رنځېده او قهراً څه هېلې او ارزو ګانې يې درلودې؟ د کهف په سورت کې الله فرمايي: فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ عَلَى آثَارِهِمْ إِنْ لَمْ يُؤْمِنُوا بِهَذَا الْحَدِيثِ أَسَفًا [کهف ۶ (۱۸:۶)] له دې آيته پوهېدی شو چې پيغمبر له کومو څيزونو رنځ وړه او هېلې او ارزوګانې يې په کوم چورليځ څرخېدې. الله تعالی پيغمبر ته وايي: ته لکه چې خپل ځان تلف کوې ددې لپاره چې هغوی نه هدايت کيږي او ايمان نه راوړي. ته ددې لپاره چې دوی ايمان نه راوړي ځان وژنه کوې. پيغمبر په دې کچه لورينه، عنايت او هېله درلوده چې خلک هدايت شي او د هغوی له نه هدايت کېدلو رنځېده.

بل آيت: لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ [التوبه ۱۲۸ (۱۲۸ : ۹)] يو پيغمبر پخپله له تا سو، ستاسو له خپله جنسه، ستاسو له خپله منځه ستاسو لور ته راغلی دی چې ستاسو بدبختۍ، ستاسو دردونه، ستاسو رنځونه، ستاسو مشقتونه او ربړونه هغه رنځوي او کله چې ستاسو بدبختۍويني رنځ ګالي. نو دلته قرآن څرګندوي چې د پيغمبر رنځ له کوم څيز څخه دی. حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ ستاسو په اړه حرص لري. ډېر عجيبه تعبير دی. سړی خو د دنيا د مال حرص پيدا کوي، پرته له پيسو او مادياتو بل څه نه پېژني. قرآن وايي دا پيغمبر ستاسو د هدايت لپاره حرص کوي يعنې ټولو ارزوګانو يې ستاسو په نجات او ژغورنه کې تجسم پيدا کړی دی. بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ د مؤمنانو په نسبت مهربان دی. مترحّم دی، رحمت لري.

دا آيتونه څرګندوي چې پيغمبر له کوم څيز خوښيږي او له کومه څيزناخوښ وي. نو دا وعده چې وايي « ای پيغمبره! الله به تاته دومره درکړي چې خوشحاله شي» په دې معنا ده چې الله به تا دومره په دنيا کې د خلکو د نجات اوژغورني وسيله کړي [او هماغه په آخرت کې د شفاعت عين وسيله کېدل دي] چې ته خپلې هېلې او ارزو ته ورسيږې.

لکه څنګه چې وويل شول، هغه څه به چې پر پيغمبر د وحی په توګه نازلېدل، حضرت به په دروندوالي او ستړيا اخته کېده، په داسې ډول چې خولې به يې پر تندي راماتې شوې.

هغه چا چې د خپل عمر به اوږدو کې داسې څیزونه نه وي اورېدلي او له وحی او له دې مسئلو څخه بېخبره وي او د قرآن په تعبیر «اُمّی» دی، او نابېره له داسې پدیدې سره مخامخ کیږي. قرآن پیغمبر ته وايي ته تر دې مخکې نه پوهېدې کتاب او ایمان څه دي: مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ. [الشورى ۵۲ (۴۲:۵۲)] پیغمبر له دې مسئلو سره آشنا نه وه، البته ډېر سپېڅلی او پاک انسان وه او په شرک یې هیڅ ککړتیا نه درلوده، خو د ایمان له څرنګوالي او کم و کیف څخه هم په څه نه پوهېده او اوس یو ناڅاپه له وحی او پاسني عالم له القائاتو سرشار شوی دی. طبعاً دا پېښه د هغه لپاره ډېره سخته ستونزمنه او درنده تمامېده. که پاملرنه مو کړې وي، د قرآن لومړني نازل شوي سورتونه له دوو یا دریو کلیمو سره پیل کیږي، په ډېر لنډیز او په اختصار. د قرآن لومړني سورتونه همداسې دي، چون پیغمبر له دې څخه د زیاتو زغم نه درلود او نه یې شو تحمل کولی. د هغه وزنبردار په څېر چې ځان یې لا چمتو کړی نه دی او اوس لږ لږ غواړي ځان ګرم کړي. دري یا زیات نه زیات پنځه کلیمې. خو وروسته چې د وحی او الهي پیغام په اخیستلو کې د پیغمبر زغم او ځواک زیاتیږي، آیتونه کله لس ګونو کلیمو ته رسیږي، تاسو د بقرې سورت ۲۸۲ آیت و لولئ؛ یو مخ دی شاید د کلیمو شمېر یې له یوسل او دېرشو څلوېښتو څخه زیات وي. د قرآن د آیتونو منځنی اوږدوالی هر څومره چې وخت تېر شوی زیات شوی دی. دا زغم او ځواک او چمتو والی چې پیغمبر وکولی شو اوږد ترو ضربانو ته هم تاب راوړي، په تدریج د ۲۳ کلونو په اوږدو کې حاصل شو. د اسراء په سورت [۷۹ آیت] کې الله تعالی پیغمبر ته توصیه کوي چې د شپې یو پار ویښ شي او عبادت وکړي. په شپېنیو عبادتونو کې مؤمن جوړیږي: وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَّكَ عَسَى أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا.(۱۲) [الاسراء ۷۹(۷۹: ۱۷)] د شپې یوه برخه ویښ اوسه. چې الله تا مناسبې پوړۍ ته ورسوي او پورته دې کړي. یا: إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ، هغه څه چې د شپې رامنځته کیږي، هِيَ أَشَدُّ وَطْءًا وَأَقْوَمُ قِيلًا. [المزمل ۶ (۶ :۷۳)] ګامونه به دې استوار تر او خبره به دې پخه او قویتره کړي او تا به جوړ کړي. او تر دې په مخکې آیت کې وايي: إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا. [المزمل ۵ (۵ :۷۳)] ډیر ژر به مونږ تاته درنه وینا القاء کړو نو معلومیږي چې پیغمبر له پیله نه شو کولی «ثقیل قول» واخلي. زړه یې یا ادراکي ځواک یې یا هر څه چې تصور وکړو، ددوی د منلو، ځواک، زغم او تحمل نه درلود او د وجود ظرف یې په تدریج ورو ورو چمتو او چمتو تر شوی دی.

مونږ هر یو د خپل تحصیل په دوران کې که حساب وکړو، په تدریج او پړاو په پړاو مخکې راغلي یو؛ له لومړني ښوونځي، منځني ښوونځي ته، بیا لیسې ته او بیا پوهنتون ته، ځینې د لیسانس تر بریده را پورته شوي یو، ځنیې تر ماسترۍ او فوق د لیسانس او د دوکتورا تر کچې او وروسته له هغه د تخصص تر پړاوه. بیا وروسته شاید لس، شل کاله مو هڅه کړې چې د وخت په اوږدو کې یو څه علوم زده کړو. خو دا ټول پړاوونه په آسانۍ لاسته نه راځي، ستړیا، سختي او رنځ یې درلود. خو پیغمبر باید په لږه او لنډه موده کې، لوړ معارف او پوهه هضم کړی او جذب کړی وای. نو کار په دومره ساده‌ګۍ نه وو، د انسان د مغزي سلولونو ظرفیت، د هغه زړه، یا هر څه چې فرض کړی، ورو ورو، تدریجاً مخ په زیاتوالي ځي. نو پر دې بنا پوهیدای شو چې له هاغو لومړنیو پیغامونو وروسته، پکار وه چې پیغمبر د لږې مودې لپاره استراحت وکړي او د ځواکونو تجدید او رَغَونه وکړي او خپل اعصاب آرام کړي او ویې غځوي چې جوړ او چمتو شي. همدا ول چې د یو پیر لپاره د وحی قطع او ځنډ رامخته شو.

د مولوي په وینا:

مدتی این مثنوی تأخیر شد　　　مهلتی بایست تـا خون شیر شـد
تا نزاید بخت تو فرزند نـو　　　خون نگردد شیر شیرین خوش شنو

اوس د دغه تحلیل په رڼا کې، کولی شو سوګندونه داسې تعبیر کړو چې لومړی هدایتي نور او رڼا راځي: وَالضُّحَى. ورپسې، لکه د شپې په څېر، چې آرامش او استراحت ورسره مل دی: وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى. ځنډ او دمه راځي، څوک دقیقاً نه پوهیږي ددې دوران د حکمت راز او سرّ څه وه. هغه څه چې خلکو حدس وهلی عمدتاً همدا دی چې الله تعالی پیغمبر ته د ځواک او انرژۍ د نوې کولو فرصت ورکړی دی چې وکولی شي خپل ځان نوو پیغامونو ته چمتو کړي. ځینو دا هم ویلي چې الله تعالی غوښتي منکران پوه کړي چې دا زما خبرې دي او که زه هغه قطع کړم، نو حضرت پیغمبر به هیڅ پیغمبرانه خبره و نه لري. نو، پوه شئ چې دا د هغه خبرې نه دي او له بلې سرچینې راځي. که وحی راونه لیږل شي، دهغه لاس تش دی او له خپله ځانه پیغام نه لري، دا نظریه، د ډېر غور او تأمل وړ ده، په ځانګړي توګه زموږ په زمانه کې چې ځینې پر دې عقیده دي چې پیغمبر پخپله قرآن رامنځته کړی دی او دا کتاب د هغه خپلې خبرې دي. په داسې حال کې چې د

«فَتَرت» پېښه په روښانه توګه څرګندوي چې د وحي د قطع او ځنډ په هغو ځو میاشتو کې، پیغمبر د رسالت لرونکي نبي په عنوان د ویلو لپاره تازه خبره نه درلوده.

---

۳ ـ د لمر د نور په خپرېدو ، او په مقابل کې د شپې د تیاره په خپرېدو تر سوګندونو وروسته، په دریم آیت کې د سوګندونو نتیجه بیانوي. ګواکې د رسالت پر مهال د وحی لنډ مهالې تمېدلو او قطع کېدلو او د لږ وخت لپاره ددې لړۍ پرې کېدلو، د حضرت رسول لپاره یو ډول تشویش او اندېښنه را منځته کړې وه چې د دا ډول آرامتیا ببنونکې ډاډګېرنې لامل شو. د الله حبیب له دې وېرې چې هسې نه چې د محبوب د ترک او بې مهرۍ وړ ګرځېدلی وي، ډېر پریشان او خوابدی وه او الله هغه ډاډه کوي چې نه یې ترک کړی دی او نه الله له چا سره دښمني کوي [ته خو لا څه چې له هیچا سره]. د «وَ مَا قَلَى» معنا کېدای شي له یوازیني بل مورد څخه چې په قرآن کې کارول شوی دی، ومومو؛ هغه مهال چې لوط خپل قوم ته وویل: « قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُمْ مِنَ الْقَالِينَ» [زه ستاسو له کړنو بېزار یم – شعراء ۱۶۸ (۱۶۸:۲۶)]. که د وحی په الهام او القاء کې فَتَرت او تمېدنه یا وقفه راغلې ده، په دې کې یو حکمت دی چې د هغو لومړنیو درنو القائاتو [د علق او مدثر او ...له سورتونو] وروسته څه آرامش او استراحت ومومي او له دې څخه د درنو بارونو لېږ او زغم ته آماده او چمتو شي « إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا » [مزمل ۵ (۵:۷۳)]. د وحی ځنډ او قطع کېدل لکه د شپې په څېر چې د ستړي او مښودل شوي تن لپاره آرام ببنونکي ده، یو فرصت دی چې پیغمبر د الهامونو له دروند فشاره هوسا شي او زړه او قدمونه یې استوار شي «...كَذَلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا »[فرقان ۲۲ (۳۲:۲۵)]،«إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْئًا وَأَقْوَمُ قِيلًا» [مزمل ۶ (۶:۷۳)].

په دې سورت کې له لنډیز او اختصار سره سره یې [۱۱ لنډ آیتونه]، ۹ ځله د «ک» مخاطب ضمیر او ۴ ځله د امر فعل [پیغمبر ته خطاب] کارول شوی دی چې نه ښکاري په نورو سورتونو کې دا ډول یو نسبت راغلی وي. چې دا مسئله مکرم پیغمبر ته نهایي ربوبي عنایت او پاملرنه څرګندوي. لکه څنګه چې د لمر نور په تدریج، ورو ورو راپورته کېږي او سراسر نیمه کره رانغاړي، ربوبي لطف او مرحمت په تدریج او منظم ترتیب د پیغمبر په پاک وجود خپرېږي او د هغه د نفس نیالګی د فضایلو په فضا کې را اوچتوي او وده ورکوي. په دې ترتیب هغه څه چې په دې سورت کې پرې ټینګار شوی دی، په زماني مختلفو پړاوونو کې د رحمت استمرار او پرله پسې توب دی چې لکه د لمر د تدریجي پورته کېدو په څېر، د پیغمبر په روحي زمینه کې ددغه خاص نعمت بشپړوالی څرګندوي.

۴ـ د اُولی په مقابل کې د آخرت راوړل، په بل عالم کې په ابدي او تلپاتې پای سربېره، کېدای شي د رسالت په بعدي او له دې وروسته پړاوونو کې هم شامل وي.

۵ ـ « سوف» له زماني پلوه د نژدې راتلونکي وعده ورکوي. که په مکه کې د رسالت د ابلاغ پېر له ډېرو ناتوانوونکو سختیو سره مل وه، د حضرت رسول د پیغام لمن په تدریج پراخه شوه او پر مکې او د

عربستان د تاپووزمې پر نورو برخو سربېره، په ټوله نړۍ کې خپره شوه او د رسالت په سرته رسولو او د امانت په ادا کولو د رسول رضايت راپنډ او حاصل شو.

أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَى ﴿۶﴾

آيا [داسې نه وه] چې ته يې يتيم وموندې؛ نو پناه ځای يې درکړ [اوستا سمبالنه يې وکړه] ؟ (۶)

وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَى ﴿۷﴾

او ته يې ورک شوی [=لار ورکی] وموندې او هدايت يې کړې؟ (۷)

وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَى ﴿۸﴾

او ته يې [تنګلاسی] او اړمن [=عيالمند] وموندې؛ نو غني [اوشتمن] يې کړې؟ (۸)

اوس الله تعالی غواړي د پيغمبر د تېرشوي ژوند له ښېښو څخه د مثال په توګه راوړي. لکه ځينې وخت موږ هم هغه کس ته چې غم او خپګان لري، نهيلی او مأيوس شوی وي، په تشويش کې وي، د تسل او ډاډګېرنې لپاره ورته وايو چې مثلاً آيا دا دې لومړی ځل دی؟ مګر په ياد دې نه دي چې په ژوندانه کې دې څومره ستونزې او تکليفونه درلودل؟ مګر ياد دې نه دي چې کله کله به دې دومره پيسې هم نه لرلې چې د شپې ډوډۍ پرې ځانته برابره کړې؛ خو الله در ورسوله او ستا لاس نيوی يې وکړ. يعنې موږ هم معمولاً ددې لپاره چې چاته روحيه ورکړو، د تېر ژوند په تجربو کې د نهيلۍ ښېښې ورته په يادوو. اوس الله هم له هغو دريو ډاډګېرنو وروسته، پيغمبر ته د تسلۍ او لا ډاډ ګېرنې د ټينګار په توګه درې تېرې شوې ښېښې وريادوي. تر څو ښه ډاډګېرنه او تسل ورکړي او هغه د خپل پالونکي رب پېرزوينې را په زړه کړي چې څه نېکۍ يې ورسره کړي دي. او څومره مينه، محبت او پېرزو يې ورسره کړې ده او څه فضل او فيض يې ور په برخه کړی دی. دا ډول خوښې او لذّت له ټولو خوښيو اوچت تر دی او يادول يې په دې نوې او ښکلې طريقه هغه ته نور هم اوچتوالی او رونق ورکوي.

لومړی: أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَى. آيا ته يو يتيم ماشوم نه وې چې موږ پناه درکړه؟ آيا همدا کافي نه ده پوهېږو چې د پيغمبر (ص) له زېږد مخکې د هغه پلار وفات شوی وو او

پيغمبر يتيم تولد شوی وو، د پيغمبر مور، کيدی شي د مېړه د وفات له خپګانه يا کومې بلې ستونزې له لامله، شيده نه درلودل چې ماشوم ته يې ورکړي وای. نو ځکه يې ماشوم سارا ته، باندېي ته، ولېږه، چې يوه ښځه د حليمه سعديه په نامه چې غرېبه او بېوزلې ښځه وه، د مزد په بدل کې دې ماشوم ته شيده ورکړي. نو دا ماشوم په واقعيت کې له موره هم لېرې کېږي. له دوو، دريو کلونو وروسته چې هغه له سارا بېرته راستنوي، ظاهراً له هاغه مهال سره برابر دی چې په مکه کې وبا خپره وه. له ناچارۍ ماشوم بېرته سارا ته ګرځوي او تر پنځه کلنۍ پورې يې هلته ساتي. يعنې دې وړوکي ماشوم نه د پلار محبت وليد او نه يې مور ورسره وه. په شپږ کلنۍ کې يې مور هم وفات مومي او په دې ترتيب ماشوم يوازې يو کال د خپلې مور محبتويني. نو پيغمبر سربېره پر دې چې يتيم وو، لطيم هم وو. هغه چاته چې پلار يې له لاسه ورکړی وي «يتيم» وايي او هغه چاته چې مور او پلار دواړه له لاسه ورکړي وي «لطيم» وايي. له هغې وروسته يې نيکه عبدالمطلب د هغه پالنه او سرپرستي په غاړه اخلي، چې هغه هم دوه کاله وروسته، يعنې د پيغمبر په اته کلنۍ کې له دنيا ځي او دا ماشوم د دريم ځل لپاره يتيم کېږي. د عبدالمطلب تر وفات وروسته، تره يې ابوطالب،[د حضرت علی پلار]، ماشوم تر خپلې څارنې او سرپرستۍ لاندې نيسي.

نو په دې ډول د پيغمبر د ماشومتوب دوره تېرېږي: يتيمي له يتيمۍ پسې. او دا يوازې ويلو ته آسانه برېښي، د ابوطالب کورنۍ سره له دې چې ډېره سخته فقيره او بېوزلې وه، د خپل وراره پالنه او سرپرستي يې ومنله. د پيغمبر د زېږد پيل چې ټول په سارا او له کورنۍ لېرې تېر شو او وروسته بيا هم چې راغی چې لږ شان سمبالنه ومومي، مور او نيکه يې له لاسه ورکړل. او تاسو پو هېږئ چې په دنيا کې داسې پېښې لږې نه دي شوي چې ماشومان د يتيمۍ له اغيزه د بېوزلۍ او لوږې له لامله له منځه تللي او مړه شوي دي. په همدې اوسنۍ نړۍ کې، د نړيوالو شمېرنو له مخې، په افريقا او نورو ځايونو کې هره ورځ له درې زرو ډېر يتيم ماشومان له لوږې مري. دلته الله تعالی بيا هم خپل پيغمبر ته وريادوي چې له درې ځله يتيمۍ سره سره يې، بيا هم هغه ته پناه ورکړه او له يوه پناځای څخه يې بل پناځای ته بوولی دی. فرمايي موږ د خپلې ساتنې، ملاتړ او حمايت سيوری پر تا غوړولی دی چې دې وکولی شو سختۍ او ستونزې شاته و غورځوې. نو لومړنی تسل او ډاډګېرنه د پيغمبر د پيې خوړنې او ماشومتوب له دورانه يادونه ده.

دويم: وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَى. «ضالّ» يعني لارورکی، ګمراه يا بې لارې. فرمايي مونږ ته لار ورکی ومونديې او هدايت مو کړېې، لار مو در وښودله. دلته لازم ګڼم د ډېريو مفسرانو هغه نظريې او ليد ته اشاره وکړم چې وايي انبياء، ټول له آدمه تر خاتمه، پلار په پلار او نيکه پر نيکه موحّدين ول او اصولاً مؤحد زېږېدلي دي په داسې حال کې چې دا آيت په ښکاره او ځرګند ډول پيغمبر ته وايي چې ته لار ورکی او ګمراه وې او موږ درته هدايت او لارښوونه وکړه. ځينو مفسيرينو چې نه شو کولی دا ومني چې پيغمبر لارورکی او ګمراه وو او نه يې شو کولی له دې اعتقاده لاس واخلي چې انبياء نسل په نسل او له زيږېدو مخکې هدايت شوي دي، نو ځنګه چې لېدلي يې دي دا آيتونه د هغوی له تيوري سره برابر نه دي ويلي يې دي چې مطلب يې د پيغمبر د ماشومتوب په دوران کې د مکې په اطرافو کې له ورکېدو څخه دی. يو له همدغو مفسرينو اوه تاريخي پېښې ذکر کړې [او يو بل حتا ترشلو پېښو او احتمالونو] چې هو، يو مهال چې د پيغمبر دايې هغه يوځای ته بوته د لارې په منځ کې ورک شوی وو او په سارا کې، مثلاً د هوازن د قبيلې په منځ کې په اشتباهي لاره تللی دی. ځينو ليکلي دي چې نه، د مکې په پس کوڅو کې ورک شوی وو!

ښه نو، آيا واقعاً لاره ورکول تر دې کچې مهم دي چې د قرآن وحی ترې يادونه وکړي؟ زياتره موږ په وړوکتوب يا کيدای شي لويوالي کې لاره ورکه کړې وي او بيا يې پيدا کوو، يا موږ پيدا کوي. دا داسې کوم مهم څيز نه دی چې الله تعالی وغواړي هغه په قرآن کې د پيغمبر مخې ته وکاږي؟ ځينو هم «ضالّ» په دې آيت کې «د نورو د ورک شوي» په معنا ګڼلی دی.يعني مقصد يې دادی چې ته د ناپېژاندې او نايابه ګوهر په څېر وې چې هيڅوک درڅخه تر هغې خبر نه ول، چې موږ ټولو ته وروپېژاندې او ستا قدر يې وپېژاند او ستا د جوهر پېژندونکي شول.

خو بايد پخپله په قرآن کې د «ضالّ» معنا او تفسير ولټوو، قرآن په ځلونو ويلي چې پيغمبر اُميّ دی او له کتاب او ايمان ناخبره دی: اصلاً ته څه پوهېدې چې کتاب څه څيز دی: ... مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ و لا الإيمان.... [الشورى ۵۲ (۴۲: ۵۲)] او ومو ويل چې «کتاب» يعني الهي قوانين او نظامونه، پيغمبر اصلاً له دې څيزونو هيڅ نه وه اورېدلي چې مثلاً د تورات او انجيل په نامه کتابونه شتون لري او دا آسماني وحيې دي، بالخصوص چې په ښار کې يې هم نه وو اوسېدلی. مرحوم دوکتور شريعتي يوه خبره لري چې وايي: پيغمبر د کليمې په واقعي معنا «بې تربيت» وو، چون نه يې پلرنی تربيت

اخيستی وه، نه مورنی تربيت او نه د مكتب او مدرسې تربيت؛ او نه چا دا ادعا كولی شوه چې د هغه مربي او معلم دی. په واقعيت كې لاس نه خوړلی، بكر او سپېڅلی روح وو، نو، د «اُمّی» عنوان هم یعنې همدا. له هماغه پیله الله هغه تربيت كړ او د هغه مربي شو. پخپله له پيغمبره نقل شوی دی چې اَدَّبَنی رَبّی فَأَحْسَنَ تَأديبی.[نهج‌الفصاحه، ۲۱مخ] یعنې پالونكي رب مې زه په ادب كړم، ښه يې هم تاديب كړم. انسانان هر څه چې په ووړكوالي كې زده كړي، لكه د ډبرې د نقش په څېر يې، په ذهن كې حک كېږي. د ماشومتوب زده كړه د چا له ذهنه ايستل ډېر سخت دي. كه څوک بد تربيت شوی وي او بد څرګند شي او هغه زده كړې چې د كوچنيتوب په دوران كې يې وركړې دي غلطې وي، هماغه د هغه شخصيت ته بڼه وركوي. نو پر دې بنا، دا پخپله د پيغمبر لپاره ستر توفيق وو چې د خپلې زمانې تر اغېز لاندې رانغی او څوک د هغه مربي نه شو او د هغه تربيت او روزنه يې ونكړه. هغه چې د زمانې رنګ يې نه وه اخيستی او بې رنګ وو، هغه يوازې الهي رنګ واخيست چې له ټولو دنيايي اړيكو او تعلقاتو بې رنګې ده، مګر آيا په قرآن كې نه دي راغلي چې :«كوم كس په رنګ آمېزۍ كې له الله هنرمند تر دی؟» صِبْغَةَ اللَّهِ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ صِبْغَةً وَنَحْنُ لَهُ عَابِدُونَ [البقره ۱۳۸ (۲:۱۳۸)]. «[د تعصب وزمه اړيكو له رنګه] الهي رنګ ته داخل شئ، او څوک له الله څخه په رنګولو كې بهتر او ښه دی؟ او موږ يوازې د هغه عبادت كوونكي او نمانځونكي يو.» پيغمبر هيڅكله له مذهبي اړخه فكر نه وو كړی چې پلانكۍ خبره يا كړنه، كفر يا شرک يا نفاق دی او د ايمان راوړلو اقتضا داده يا هغه ده، ځكه چې د هيڅ يوه شريعت تر زده كړو لاندې نه وو راغلی. هغه سم چاری، امين، پاک لمنی او د خلكو مينه پال سړی وو، محرومانو ته رسيده او له بېوزلو سره يې مرسته كوله او البته هيڅكله يې د مشركانو په مذهبي طريقو او مراسمو كې ګډون نه كاوه، ويل كېږي چې د ابراهيم خليل له آئين سره يې آشنايي درلوده او ددې باور لرونكو له يوې ډلې سره يې تګ راتګ درلود، خو دا خبره دومره روښانه بنسټ نه لري، له دې پرته هم له كتاب او ايمان سره د هغه د نه آشنايي په اړه له قرآني تصريحاتو او څرګندونو سره اړخ نه لګوي. او هغه مهال، كه يو څوک فطرتاً پاک او ذات او ضمير يې له هر ډول ككړتيا تش او پاک وي، له هغه جهته نه چې مثلاً يو چا كتاب لوستی وي او زده كړو له رذايلو لېرې كړی دی. نه، كولی شي ذاتاً ښه او مهربان، له بديو لېرې او د حق غوښتونكی سړی وي. پيغمبر ذاتاً د خير او د خلكو خدمت ته عاشق او لېوال وو. نو پر دې بنا،«ضالّ» يا

لاروركى، چې په آيت کې راغلی، په دې معنا نه دی چې مثلاً پيغمبر کوم خلاف يا خطا کار کاوه او الله تعالی له هغوی لېرې کړی دی.

سربېره پر دې، د «هدايت» اصلي معنی يعنی مقصد ته رسول او رهبري [په لار وړل] ده، نه لارښوونه. نو که يو څوک هر څومره پاک هم وي او په انسانيت کې بشپړ وي، تر هغه چې الله هغه ته نه وي ويلي له کوم مسير او تګلارې لاړ شي او هغه قدم په قدم و نه بوځي او مقصد ته يې و نه رسوي، له دې نظره هغه «ضالّ» دی. که الهي هدايت نه وي، انسان به چرته لاړ شي؟ بايد الله يې لاس ونيسي او هدايت يې کړي او مقصد ته يې ورسوي.

قرآن «هادی» دی، يعنې زموږ لارښود او راهبر دی او د هدايت د مسير او تګلارې په اوږدو کې موږ ته وايي چې څه وکړو او له کومې لارې لاړ شو. کوم وخت چې سړی راهبر ونه لري، په هرې کچې چې هم ښه ذات ولري، د خپل عقل پر تکيه نه شي کولی سم مسير او تګلاره تر پايه ووهي، دا خو لا پرېږده چې و غواړي نورو ته هم لارښوونه وکړي. په خپل بنسټه عقل خو بيخي نه شي کولی د الله او آخرت په اړه يو سم تصور او انځور ولري او دا چې دقيقاً له دوست او دښمن سره څه ډول چلن وکړي او مصلحت او مفسدت په هر کار کې څه دی؟ نو ويلی شو چې په دې معنا پيغمبر له دين او ايمان څخه خبر نه درلود. «ضالّ» مګر په دې معنا نه دی چې ته بې لارې وې او موږ ته رهبري کړې او په لارې مو سم کړې؟

د قرآن له نظره ضلالت او هدايت مرتبې او درجې لري. هدايت مرتبې لري. قرآن حتی هدايت انسان ته نه ځانګړی کوي. قرآن د موسی او هارون له ژبې نقل کوي چې فرعون ته يې وويل: قَالَ رَبُّنَا الَّذِي أَعْطَى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَى [طه ۵۰ (۵۰ :۲۰)] زموږ پالونکی رب هغه دی چې هر موجود ته يې د هغه متناسب او وړ خلقت ورکړ او وروسته يې هغه په خپله لار هدايت کړ. انسان ډول ډول هدايتونه او ضلالتونه لري. موږ اوس د هغوی د حس په هدايت او د غريزې په هدايت پورې کار نه لرو. يو له هدايتونو د عقل هدايت دی. الله تعالی چې هر انسان ته عقل ورکړی دی، الله تعالی هغه د عقل په توسه له ضلالت څخه ژغورلی دی. ډېری داسې مسئلې شته چې حتا وحی ته ضرورت نه لري او انسان د روښانه عقل او د خپل فطري او خدای ورکړي عقل په حکم پر هغوی پوهېږي او اصلاً نه لار ورکی کېږي د انسان د انسانيت مايه د هغه عقل دی د همدغه عقل په حکم

ډېريو حتا د جهالت په وخت کې هم شراب نه خوړل. بت پالنه هم همدا ډول ده. يو شمېر داسې ول چې مخکې له دې چې پيغمبر په پيغمبرۍ مبعوث شي هغوی ته يې «حنفاء» ويل. هغوی د بتانو د نمانځنې مراسم په ټولېزه توګه پرېښي ول او له هغو يې نفرت کاوه. او په اوسنۍ اصطلاح هماغه روڼ اندی يې هغوی ته اجازه نه ورکوله چې بت پرست اوسې، د هغوی عقل ورته اجازه نه ورکوله.

پيغمبر اکرم هم مخکې له دې چې په رسمي توګه وحی پرې نازله شي، د خدای ورکړې ډېر عقل په حکم ډېريو خيزونو ته هدايت شوی وو. پيغمبر ولې په «محمد امين» معروف وو؟ هغه داسې يو سړی وو چې هيڅ وخت يې خيانت ته پر امانت ترجيح نه ورکوله او امانت يې له دې جهته چې امانت وو خوښاوه. که پيغمبر رسالت ته مبعوث شوی هم نه وای، په ټول عمر کې يې يو دروغ هم نه ويل. دا هدايت، له وحی مخکې وو. پيغمبر که رسالت ته مبعوث شوی هم نه وای، په ټول عمر کې يو ذره هم د امانت او سپېڅلتيا له لارې نه بېلېده. خو له دې ټولو سره سره د عقل هدايت، د عقل هدايت دی او د پرښتې په توسه پټ هدايت نه دی د پرښتې هدايت يوه درجه د عقل له هدايته اوچت دی. او بيا هغه هدايت چې د وحی له لارې د جبرئيل په توسه کيږي ډېر اوچت دی. الله کولی شي پيغمبر ته ووايي: ای پيغمبره! موږ تاته عقل درکړ او ته مو هدايت کړې او که تاته مو عقل نه وای درکړی ته لارورکی وې. همدا راز هغه پټ او مرموز ځواک چې تل مو له تاسره مل کړی وو ته مو هدايت کړې او که هغه نه وای تا په دې درجه هدايت نه درلود او ګمراه وې. له ټولو اوچتتر که زموږ وحی نه وای ته نه پوهېدې کتاب څه څېز دی او ايمان څه دی. چې د شورى په سورت کې فرمايي: وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا مَا كُنْتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ ....[شورى ۵۲ (۴۲:۵۲)]«او په دې توګه مو له خپله امره يو روح تاته وحی کړ، ته مخکې له دې نه پوهېدې کتاب څه څيز دی او نه ايمان. ....»

او دريم: وَوَجَدَكَ عَائِلًا، مګر ته مو عايله مند ،فقير، اړ او محتاج ونه موندې؟ «عائل» يعني اړ او محتاج او هغه څوک چې د خپلې کورنۍ د خرڅ او مصرف وسه او توان ونه لري. فَأَغْنَى. نو ستا اړتيا مو لېرې کړه ته مو بې نيازه کړې. پيغمبر د ځوانۍ دوره د يوې مودې لپاره په شپانه توب تېره کړه او بيا ورپسې د ابوطالب، [چې پخپله هم فقير وه] تر څارنې او پالنې لاندې حضرت پيغمبر له هغه سره د هغه په تجارتي کاروانو کې، کار پيل کړ او يو ځل دوه ځلې يې له هغو کسانو سره چې د خديجې په چوپړ کې وو، تجارتي

سفرونو وکړل. محمد په خپل چلن او اخلاقي کړنو او عمل کې داسې سپېڅلتيا، پاکې، صداقت او سموالی څرګند کړ چې د هغې محترمې مېرمنې علاقه او مينه ورسره پيدا شوه او هغې پخپله د واده وړانديز ورته وکړ، سره له دې چې له دې مخکې خديجې دوه ځله مېړه کړی وو او ستر بچيان يې درلودل او پنځلس کاله له حضرت پيغمبر، ستره وه. په دې ترتيب، محمد امين په يو ځل هر څه، کور او ژوند، کار او دنده او سرپناه پيدا کړل. او رسالت ته له مبعوث کېدو وروسته هم، مېرمن يې چې پر شخصيت يې مينه وه، ټول ثروت او شته يې د هغه د لارې او مکتب په پښو کې وشېندل او د ميرمن دا سربښندنه او فداکاري ددې لامل شوه چې د پيغمبر لاس له مالي اړخه ډېر آزادتر وي.

د پيغمبر د ژوندانه د دغو دريو خاطرو او پېښو په يادولو سره الله تعالی وايي چې نو ولې ناراحت او خفه يې؟ ستا ژوند، له ډېر وړوکوالي له پيو خوړنې او ماشومتوب له مهاله او زلميتوب او ځوانۍ تر مهالونو زما د ساتنې او حمايت تر سيوري لاندې تېر شوی دی. اوس هم نو د څه تشويش ځای دی؟ زه لکه د تېر په څېر درسره يم. الله تعالی خپل حبيب ته وايي: د خپل حال واقعيت ته دې پاملرنه وکړه. تېرشوي ژوند ته دې وګوره .... آيا پالونکي رب دې ته ترک کړی يې؟ او آيا ستا رب کله پر تا غوسه شوی دی او تاسره يې دښمني کړې ده؟ حتّی تر دې مخکې چې تا پيغمبر کړي او دا عهد او پيمان له تا سره وتړي ته يې کله هېر کړی يې؟ آيا د الله عنايت او رعايت ستا د يتيمۍ پر مهال له تا سره نه وو؟ آيا د خپل پالونکي رب هدايت ستا د حيرانتيا او لارورکۍ له موندنې وروسته ستا مرستې ته نه دی رسېدلی؟ آيا ستا د پالونکي رب بخشش او عطاء ستا فقر او تنګلاسي ونه نغاړله او ستا فرياد ته درونه رسېد؟

ته دنيا ته يتيم راغلې او الله پناه درکړه. او زړونه يې تاته متوجه کړل. ان تردې چې ستا د تره ابوطالب زړه يې، سره ددې چې ستا په دين نه وو!

ته فقير او تنګلاسی وې. خو الله ستا زړه په قناعت شته من کړ. الله تعالی ته د خپلې مېرمن حضرت خديجې (رض) په مال او شتو، ثروتمند او شته من کړې په داسې ډول چې د فقر او نشمتنۍ احساس ونکړې، او د خپل چاپېريال د خلکو شتو او ثروت ته دې سترګې ونه ګنډې! ته د جاهليت په منځ کې ستر شوې، هغه جاهليت چې ګډوډ نړۍليدونه، اندونه، عقيدې او باورونه يې درلودل. او له منحرفو او کږو احوالونو، وضعيتونو، کړنو، او ويناو څخه برخمن ول. ستا روح له هغه جاهليت سره هوسا او برابر

نه وو او ور وا نه وښت. او تا روښانه او امن لار پکې و نه موندله. روښانه لار دې نه د جاهلیت په اوسېدونکو کې، او نه د عیسی او موسی په لارویانو کې وموندله. د آسماني ادیانو لارویانو هغه تحریف کړي ول او هغه یې ګډود کړي او اړولي ول او منحرف شول او په کږو او بې لارو لاړل او سرګردانه او حیران شول... په دې حال او احوال کې سپېڅلی رب ستا فریاد ته ورسېد او ته یې هدایت کړې او لارښوونه یې درته وکړه ، چې ددې په رڼا کې یې تاته وحی وکړه، او ستا تړاو یې له الله سره را منځته کړ. د عقیدې د سرګردانۍ په منځ کې، او د کږو وږو درو د لار ورکۍ په منځ کې، هدایت کول، لارښوونه او لارې ته سمول داسې لطف او فضل دی چې هیڅ لطف او فضل ورسره سیالي او برابري نه کوي. له ګډوډۍ او بې لارېتوب څخه هوساینه، آرامتیا او امن کېدل دي، داسې ګډوډي او بې لارېتوب چې هیڅ ګډوډي او بې لارېتوب ورته نشي رسېدلی، او له داسې یو درد او رنځ څخه ژغورنه ده چې هیڅ درد او رنځ ورسره برابر او سیال نه دی. ددغه هدایت عظمت او ستروالی هغه وخت ښه څرګندېږي چې خپل لید د هغه درد او کړاو لور ته واړوو، چې پیغمبر په دې پېر کې ورسره مخامخ وو او حس کاوه یې. کله چې وحی وځنډېده، او د مشرکانو پېغورونه او ملامتې ډېره زیاته شوه له محبوب څخه د محبوب بېلتون رامنځته شوی دی... په دې اوضاع او احوال کې دا آیتونه رارسېږي او ورته تذکر، اطمینان او ډاډګېرنه ورکوي چې پالونکي رب هغه پرېښی نه دی او نه یې ترک کړی دی. هغه یې په یو ډاګ او بیابان کې سرګردانه نه دی پرېښی او نه یې هغه ترک کړی دی.

---

۶ ـ له دې آیت وروسته، د پالونکي رب له تیرو لطفونو درې ځله یادونه کوي، درې ځلې هم له اوسنیو او راتلونکو لطفونو، او درې ځلې هم له هاغه ژمنې او مسئولیت څخه چې ددې نعمتونو په وړاندې یې لري. لومړنی نعمت چې ورته یادوي د پیغمبر د غبرګې یتیمۍ زمانه ده چې له زیږېدو مخکې یې پلار وفات شو او یتیم نړۍ ته راغی، او لا په ډېر وړوکتوب کې یې مور وفات شوه او ورپسې نیکه یې [عبدالمطلب] او بیا تره یې [ابوطالب] چې په ترتیب یې د هغه د پالنې مسئولیت په غاړه اخیستی وو، او د هر یو په وفات کېدو بیا بیا یتیم شو.

۷ ـ هدایت او ضلالت نسبي چارې دي. هر څومره چې د اسلام مکرم پیغمبر په رښتینولۍ، صداقت او امانت او په ښه اخلاقو کې د خپل ښار او سیمې تر ټولو ډېر مشهور او منل شوی وو، خو د قرآن د بیان پر بنا، د مخکینیو انبیاؤ د تجربو په نسبت له غافلینو څخه وو «.... وَإِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الْغَافِلِينَ » [یوسف ۳ (۳:۱۲)] او له دیني کتابونو او ایمان څخه یې هیڅ خبر نه درلود. «... مَا كُنْتَ

تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ ... » [شورى ۵۲ (۴۲:۵۲)]. سره ددې چې ځينيو مفسرينو، دا اشاره د مکې په کوڅو بازارونو يا صحرا کې د پيغمبر د ماشومتوب په دوران کې د هغه د ورکېدو په اړه ګڼلې ده چې ډېر د قرآن له حقيقت سره سمون نه خوري او ترې لېرې ښکاري.

۸ ـ «عائل» نيازمند، اړ او نشتمن ته ويل کيږي. دا کليمه په قرآن کې يو ځل بل ځای د «غنی» په مقابل کې راغلې ده:«.. وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ إِنْ شَاءَ .. »[توبه ۲۸ (۹:۲۸)]. د اسلام پيغمبر له خديجې سره دواده تر مخه له مالي اړخه شته من نه وه اوله دې اړخه يې لاس او پښې بندې وې خو له واده وروسته يې ډېر شته او امکانات د خپلې موخې په مسير او تګلاره کې لاسته راوړل.

فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ﴿۹﴾

نو [ددې نعمتونو په پاس، ته هم] يتيم ته قهر [او غوسه] مه کوه. (۹)

وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ﴿۱۰﴾

او [بېوزلی فقير] سوالګر [له ځيله ځانه] په رټلو مه شړه،

وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ﴿۱۱﴾

او [په پای کې] د خپل پالونکي رب نعمتونه [او لورونې خپل ځان ته او نورو ته] بيانوه. (۱۰)

پيغمبر ته له يتيمۍ او بې پلارۍ څخه د الله د پناه ورکولو په يادولو، او له سرګردانۍ او حيرانتيا څخه د هغه د ژغورلو لپاره د لارښوونې، او هدايت په يادونه، او له فقر او تنګلاسۍ څخه د نجات ورکولو په ذکر، متعال الله هغه ته او هاغو مسلمانانو ته چې له هغه وروسته راځي، لارښوونه کوي چې هر يتيم چې وموميې هغه ته پاملرنه وکړي، او له هر ګدا سره مرسته وکړي، او د الله تعالی له پراخو او زياتو نعمتونو يادونه وکړي، او د الله تعالی د نعمتونو شکر پر ځای کړي. يعنې بحث دادی چې آيا الله يوازې غواړي خپل پيغمبر ته تسلي او ډاډګېرنه ورکړي يا غواړي کومه نتيجه هم واخلي؟ هو، درې نتيجې يې اخېستې دي. له پيغمبره د دريو تشويشونو رفع کول د دريو ځانګړو لفظونو په ذکر، او په پای کې درې نتيجې اخيستنې. چې په حقيقت کې يې پيغمبر ته درې فرمانه ورکړي دي او درې دندې يې ورته سپارلې دي چې په واقعيت کې دا فرمانونه د ټول امت لپاره دي او دا دندې د ټول امت په غاړه هم دي چې سرته يې ورسوي.

لومړی دنده: فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ. «فَ» يعنی بناپردې. وايي اوس نو چې تا پخپله د يتيمۍ خوند څکلی دی او هغه دې په خپل ټول وجود حس کړی دی، نو يتيم له ځانه مه شړه او هغه مه رټه. پر هغه قهر مه کوه. «قهر» يعنې برلاسی ستغوالی او له پاس او پورته خوا چلن. قهرجن چلن يعنې ستغ چلن. فرمايي له يتيم سره مهربان اوسه. دا د رسالت لومړنی درس. ډېر توپير لري چې يو څوک يو څيز وپېژني، له هغه چا سره چې هغه څيز يې څکلی وي پيغمبر پخپله د يتيمۍ د فقر او يوازېتوب خوند څکلی وو. چون ته پخپله د يتيمۍ په درد پوهېږې نو يتيم د لاس لاندې مه مغلوبوه، د يتيم له يتيمۍ ناوړه ګټه مه اخله چې د لاس لاندې يې مقهور کړې؛ يعنې يتيم ته دومره عزت او درناوی ورکړه چې هيڅ احساس ونکړي چې پلار يې له لاسه ورکړی دی او د لاس لاندې شوی دی.

دويمه دنده: وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ. سوال کوونکی «سوالګر» مه شړه. ويلې يې دي «سوال کوونکی» يعنې هغه څوک چې څه نه لري او له تاپې غواړي، هغه که مالي وي يا غير مالي وي. دا چې وايي «مه شړه» غير له دې دی چې ووايي «يو څه ورکړه» کله انسان څه نه لري او څه نه ورکوي. پر انسان واجب نه دي چې هر وخت يو سائل راغی، هغه که د معنا سائل وي يا مادي سائل وي، هرومرو يو څه هغه ته ورکړي خو بايد هغه په مهربانۍ او مينه رخصت کړي نه په شدت او توندۍ. په دې اړه قرآن کريم ډېره پېرزوينه لري. نو «سائِل» يعنې نيازمند، اړ او غوښتونکی. «نَهر» هم يعنې چيغې وهل، رټل او له ځانه لېرې کول. بس د ځينو چلن همدا ډول دی نو. وايي: څه تېر شه! موږ پخپله زر ډوله ستونزې او مشکلات لرو، ته هم راغلی يې چې زموږ په سر بار شې! زموږ خپل خرڅ نه راوځي اوس ته هم راغلی يې چې تاته هم څه درکړو! په اسلام کې په ټينګار توصيه شوې ده په قرآن کې هم دي چې يو څوک تاسو ته راغی او حاجت او اړتيا يې درلوده که نه مو درلودل يا ومو نشو کولی، لږ تر لږه په نرمه ژبه په ښه طريقه د عذر په ډول نه په چيغو او جګړه ماره طريقه، له هغه سره خبرې وکړئ. په واقعيت کې په هماغه خوږه ژبه يو څه، يعنې ښه خبره ورکړئ او هيله من يې کړئ چې مثلاً انشاءالله که لاس مې وچلېد په سترګو خامخا ستا په خدمت کې يم او اوس ډېر شرمنده يم چې نشم کولی څه درته جوړ کړم او يو خدمت دې سرته ورسوم او په ښه دې راشم او ددې په څېر نورې ښه خبرې. يعنې لږ تر لږه نه ښايي اړ او حاجتمند خفه کړو. هغه څوک چې خپل شخصيت يې مات

کړی او راغلی له سړي سوال او غوښتنه کوي موږ ته نه ښايي چې په زخمونو يې مالګه ودوړوو. نو دا هم شو دويم درس او دنده.

دريمه دنده: وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ. وايي تاته زموږ دريم فرمان دادی: د الله نعمتونه مه پټوه هغه نعمتونه چې الله درکړي بيان کړه او په ژبه يې ووايه. او البته دا هم پخپله شخص ته ګټور دی، چون ځان ته تلقين دی چې الله زما د ژوند ځومره ستونزې حل کړې دي او په څومره سختو او د نهيلۍ په شرايطو کې يې زما لاس نيوی کړی دی او زما نارو او فرياد ته رسيدلی دی. او هم نورو ته ګټور دی او د زده کړې وړ. موږ معمولاً عادت يو چې که يو څيز ولرو، غواړو هيڅ يې ښکاره نه کړو. استدلال مو هم دادی چې کېدی شي هغه وخت خلک زموږ څخه انتظار، تمه او توقع ولري. د همدي لپاره ډېری کسان چې امکانات او شته لري، هغه پټ ساتي. په داسې حال کې چې الله تعالی ددې چلن پر عکس او خلاف فرمان ورکوي او وايي الله تعالی چې تاسو ته نعمتونه درکړي ووایاست او نقل يې وکړئ، د الله نعمتونه چې زموږ په نصيب شوي دي، بيان يې هم پخپله موږ ته، د مثبت تلقين له نظره، ښه دی او هم نورو ته.

د نعمت شکر زموږ د ليد په زاويې پورې اړه لري په دې اړه يو چا يو ښه مثال ورکړی چې په آسانۍ په کې د شکر د ليد زاويه تشريح کېدی شي، په دې ډول چې: الله تعالی د دوو کسانو روزي زياته کړه، خو ورپسې سمدلاسه د هر دواړو زامن ناروغ شول. لومړني وويل: بدقسمتۍ ته ګوره! چې څنګه مو پيسې لاس ته راغلې، بچی مو بيمار شو او ټولې مصرف شوې. له خدايه ځار شم چې پيسې يې لا راکړې نه وې بېرته يې واخېستې! دويمی وايي: يا الهي ستا له لطفه ځار شم! چې زما د بچي له بيمارۍ مخکې دې راته د ډاکټر او درمل مصرف راوليږه. وګورئ دواړه پېښې يو څېر دي، خو د يو غبرګون اعتراض، شکايت، خوابدي، غم او غوسه ده او تل مادي نوې غوښتنه ده، او دا پېښه بدبختي او بدقسمتي ګڼي، بل خوښ دی چې مخکې له دې چې ماشوم يې رنځور شي د علاج او درمل خرڅ او مصرف يې ورته رسولی دی. وګورئ دوی دواړو کې څومره تو پير دی. نو پر دې بنا، د الهي نعمتونو بيان پخپله وګړي سره مرسته کوي او د انسان په حال او روحيه مثبته اغېزه کوي.

دا چې وايي د خدای نعمتونه مه پټوه، ويې وايه، يادونه يې وکړه. دې ته اصطلاحاً وايي «نعمت ته تحدث». هغه نعمتونه چې الله انسان ته ورکړي، له دې لېده چې خلکو ته يې ذکر وکړي يا ونکړي څو حالته کېدی شي ولري چې ځېنې يې مذموم، بد او کرغېړن دي او ځېنې يې ممدوح، ښه او د ستاېنې وړ دي. يو دا چې د نعمت ذکر کوي خو د فخر او وياړ په مقام کې او د خلکو په مخکې د څرګندولو او ځان ښودلو لپاره او ددې لپاره چې ووايي چې زه يم چې داسې يم. دلته هغه ځای دی چې نه ښايي د نعمتونو ذکر وشي؛ يعنې که ويل يې ددې سبب کېږي چې بل څوک په خپل ځان کې د حقارت او ټيټوالي احساس وکړي، نه ښايي وويل شي. هغه ځای کې چې د نعمت ذکر د تحقير مفهوم لري بايد و نه ويل شي.

دويم حالت د لومړني حالت عکس دی. يعنې ځېنې که په «لرم لرم» غواړي خلکو ته آزار ورکړي او ويې رنځوي او د اخلاص او حقيقت له لارې وځي. ځېنې نور په «نه لرم نه لرم». الله تعالى ورته نعمت ورکړی خو زړه يې نه غواړي چې نور پرې پوه شي او تل يې پټوي. لکه د هغو کسانو په څېر چې تل يې زړه غواړي د ځان په نسبت د نورو ترحم راوپاروي؛ روغ رمټ دي خو تل آه او فرياد کوي ځګېروي کوي. دا يو ناوړه عمل دی، بلکه يو ډول ګناه ده. الله تاته روغتيا درکړې، ووايه روغ رمټ يم، ولې بېځايه آه او سورې وباسې؟! چې کولی شې په نبغ قد حرکت وکړې، ولې ځان کړوپ کړوپ کوې؟! ولې خپل ځان له هغه کڅې چې مات او بيمار يې، زيات مات او بيمار څرګندوې؟! ولې ځان له هغه کڅې چې فقير يې، زيات فقير ښکاره کوې؟! ولې د خدای نعمتونه پټوې ددې لپاره چې د نورو ترحم را وڅکوې؟! په الله اعتماد نه لرې؟! دلته ددې ځای دی چې انسان نعمت ته تحدث وکړي او ووايي « الحمد لله موږ يې لرو اړتيا نه لرو الله موږ ته راکړي دي». که انسان اړتيا نه لري يا په يو ټاکلي بريد کې اړتيا نه لري او بيا ورپسې هغه پټ کړي او خپل ځان اړمن يا اړمن تر له هغه بريده چې اړتيا لري څرګند کړي، دا يوه ګناه ده. دلته دی چې فرمان ورکوي وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ. ووايه بيان کړه هغه نعمت چې الله تاته درکړی دی، له خلکو يې مه پټوه، د الله نعمت دی او د الله خوښېږي چې کوم مهال چې چاته نعمت ورکوي خلک پوه شي چې الله هغه د نعمت وړ ګڼلی. په عين حال کې د الله نه خوښېږي چې يو څوک وغواړي د الله نعمت په داسې ډول خلکو ته څرګند کړي چې له دې لارې خلک تحقير کړي.

دا لارښوونې چې د يتيم اکرام ته او له هغه سره له قهر او غوسې، د هغه د زړه له ماتولو، او تحقيرولو څخه ځان ساتل، او د بېوزلي او ګدا اړتيا لېرې کول او له هغه سره نرمي کول، او د هغوی درناوی کول او د حرمت ساتل يې ـ لکه څنګه چې په ځلونو ويل شوي ـ د کفر، الحاد، دښمنانګۍ، زيرمو اچوونو، پانګوونو، زرپالنو او مال پرستۍ په چاپېريال کې له مهمترينو پيغامونو څخه دي. داسې يو چاپېريال چې په هغه کې د داسې يو ضعيف او کمزوري حق چې له خپله ځانه د توري په توسه دفاع نه شي کولی، نه رعايت کېږي. اسلام داسې يو چاپېريال ته د خپل شريعت په توسه لوړتيا ورکړه، او حق او عدالت، تقوا او پرهيزګارۍ او د الهي قوانينو رعايت ته يې ورساوه. هغه خدای چې له خپلو قوانينو څارنه او پالنه کوي، او د خپلو قوانينو لوری نيسي او ملاتړ يې کوي، او کوم مهال چې د ضعيفو او بېوزلو بندګانو پر حقونو ظلم او تېری وشي، نو خشم او غوسه يې راپارېږي، داسې ضعيفه بندګان چې کوم ځواک او توره نه لري چې له ځانه پرې دفاع وکړي.

خو د الله له نعمتونو خبره کول ـ په ځانګړې توګه د هدايت او ايمان نعمت ـ د نعمت د ښښونکي د شکر پر ځای کولو له ډولونو او بڼو څخه يو ښه ډول او بڼه ده.چې د شکر پر ځای کولو دا ډول او بڼه د الله له بندګانو سره په مرسته او نيکۍ بشپړېږي. د الله له بندګانو سره نيکي کول،د شکر پر ځای کولو عملي بڼه او انځوردی،چې بې غږه ښه او ارزښتناکه خبره ده.

هو، لکه څنګه چې مو وويل، د وحی په نزول کې د ځنډ او دمې او تعطيل له پېر وروسته، پيغمبر ډاډګېرنه مومي او چمتو کېږي چې په پيل شوې لارې، په کلکو او ټېکاوترو ګامونو مخ پر وړاندې ولاړ شي. نو ددې دليل چې په سورت کې د «ک» ضمير راغلی دی او ورپسې فعلونه چې ټول پيغمبر ته خطاب دي، پر دې ټينګار کوي چې پيغمبر د لارې ادامې او د رسالت اداء کولو ته هيله من کړي او زړه يې ولګي. خو آيا ددې سورت د خبرې مخه يوازې پيغمبر ته ده؟ يا موږ يې هم تل د ځان لپاره خطاب وګڼو او زموږ لپاره هم پيغام لري؟ مګر موږ په خپل ژوند کې کله نا کله ناراحت، غمګين او نه خوابدي کېږو او آيا تېر مهال مو نه هيرېږي؟ نو، کيدی شي موږ هم ددې آيت مخاطب اوسو. هغه مهال چې له ستونزو سره مخامخ کېږو، موږ هم کولی شو د خپل تېر عمر د دوسيې پاڼې واړوو، او خپل تېر عمر ته وروګرځو او ووينو چې څه ستونزې او تنګلاسۍ مو درلودې، هغه چې د ماشومتوب پر مهال مو درلودې او يا په ورپسې مهالونو کې، هغه که زموږ په

کار کې وي، که زموږ په ژوند او اړیکو کې وي، او په سلګونو ځله، زرګونو ځله مو لېدلي دي چې هر ځل د الله لطف پر موږ شوی دی او زموږ د ستونزو غوټه یې پرانیستې ده او موږ سره یې مرسته او یاري کړې ده.

د حضرت علي (رض) قول دی چې فرمايي: عَرَفْتُ اللَّهَ سُبْحَانَهُ بِفَسْخِ الْعَزَائِمِ وَ حَلِّ الْعُقُودِ.[نهج‌البلاغه، «قصار کلیمې»، ۲۵۰ کلیمه] یعنې ما الله له دې لارې وپېژاند چې هر مهال به ډاډه وم چې یو کار سر ته رسولی شم، و به مې لیدل چې نه کېږي، خو ددې پرعکس، کوم مهال به مې چې یو کار نه کېده او د کېدو لار به یې بنده وه او هیڅ فکر به مې نه کاوه چې سم به شي، نابېره به مې ولېدل چې د کار بنده غوټه به خلاصه شوه، نو د پېښنو تر شا یو بل لاس دی او سړی نه شي کولی ډېر پر خپل ځان حساب وکړي. لنډه دا چې دا پیغام زموږ لپاره هم دی.

د لومړنی توصیې په اړه، یعنې د یتیم په اړه د سپارښتنو په برخه کې هم باید دې نکتې ته پاملرنه ولرو چې په هغه پیر کې چې نه کوم دولت وو، او نه کومې بودجې شتون درلود، نښتې او جنګونه به کېدل چې ډېرې مړینې او هلاکتونه به یې رامنځته کول په داسې ډول چې کله به د قبیلې شل تر دېرش سلنه نارینه وژل کېدل او په پرله پسې توګه به یتیمان د ټولنې پر اوږو بار پاتېدل؛ په ځانګړې توګه په هغه مهال او سیمه کې چې هرې کورنۍ ډېر زامن درلودل او که د بېلګې په توګه سل کسان به په جنګ کې ووژل شول او په منځنۍ توګه که هر یوه پنځه بچیان درلودل، په یو ځل به ۵۰۰ ماشومان یتیم او بې پالونکي کېدل او څوک نه وو چې هغوی اداره کړي. یعنې په هغه زمانه کې، د یتیمانو اداره د ورځې ژوندی مسئله ګڼل کېده. وسمهال د نن ورځې په پرمخ تللو ټولنو کې دولتونو کابو دا ستونزه حل کړې ده، یعنې هماغه کار کوي چې موږ مسلمانانو، له هاغو ټولو توصیو سره چې زموږ په دین کې په دې اړه شوي دي، باید کړی وای. دوی د عملي تجربو په نتیجه کې حل لار پیدا کړې ده. یعنې وسمهال نور یتیم په هغه پخوانۍ او مادي معنا لږ تر لږه په اوسنیو لویدیزو ټولنو کې شتون نه لري. بودجې یې ورته په نظر کې نېولې او ځانګړې کړې دي او دولت د یتیمانو د پالنې مصرف په غاړه اخیستی دی. ان تر دې چې مور ته هم چې د خپل ماشوم پالنه او ساتنه کوي، د ماشوم د مصرف پیسې ورکوي، دا لا څه چې د ماشوم لپاره پالونکي ونیسي، له دې توپیره پرته چې ښځې طلاق اخیستی وي او که کونډه شوي وي. له هغو قوانینو سره چې پرمخ تللې ټولنې یې لري یتیمان لږ تر لږه

له مالي اړخه بسيا دي، البته پرته له هغو محرومو سيمو يا نورو طبقو چې په هره ټولنه کې شته. خو له دې سره سره نه شو ويلی چې د يتيمۍ ستونزه په بشپړه توګه له دې ټولنو لېرې شوې ده. چې البته دا ستونزه زموږ په هيواد کې له هر ليده او له ټولو برېدونو تېرې کوي. موږ وسمهال داسې ماشومان لرو چې ظاهراً يتيمان نه ګڼل کېږي، خو په واقعيت کې دمالي ستونزو او نېمګړتياو په لرلو سره يتيمان دي، هغوی خو لا څه کوي چې پلرونه يې له لاسه ورکړي او په واقعيت کې يتيمان دي. هغوی خو په غبرګ ظلم اخته دي. محروميت يې غبرګ دی. او د هغوی مسئله خو يوازې مالي نه ده. يتيم خو يوازې خوراک او څښاک نه غواړي؛ يتيم محبت غواړي، موسکا غواړي، يوه خوله خندا غواړي، په غېږ کې نېول غواړي. پر دې بنسټ، د قضيې يو اړخ دادی چې که په کومه کورنۍ کې د مور او پلار سېوری د بچيانو پر سر وي هغوی بايد تل د ټولنې د محرومانو په فکر کې اوسي. او دا ددې سورت يو له سترو درسونو څخه دی . او دلته ښايي دا هم اضافه کړو چې له «سائل» او اړمن څخه مقصد حتماً هغه څوک نه دی چې راشي او د ګدايي لپاره سړې ته لاس اوږد کړي، زمونږ چاپېريال له اړمنو ډک دی. «سائل» سؤال کوونکی دی او «سؤال» يعنې اړتيا. او اړتيا تل شتون لري.

ددې سورت بل ستر درس زموږ په ژوند کې د الهي لطف او ياری يادول دي. او د الله د نعمتونو بيابيا ويل او په پرله پسې توګه د هغوی بيانول دي. بيا هم در په زړه کوم چې موږ يو مُنعم لرو چې هر يو نعمت له هغه دی، او دا د قرآن يو له مهمو او بنسټيزو درسونو څخه دی. د پيغمبر دا دعا به مو اورېدلې وي چې: اَللَّهُمَّ مَا بِنَا مَنْ نِعْمَةَ فَمِنْکَ. يعنې يا الهي، هر نعمت چې موږ ترې برخمن يو، که سترګې لرو، که غوږونه لرو، که سالم بدن لرو، که شته لرو، راحت او سوکالي او مور او پلار او کور او ښه ژوند لرو، ټول له تا دي، لا اِلَهَ إلاّ أَنتَ سُبحَانَکَ فِقِنا عَذابَ النّارِ.

صدق الله العليّ العظيم.

---

۹ ـ د يتيم جسم مادي تغذيې ته اړ دی او روح او روان يې پاملرنې، درناوي، اکرام او د مينې محبت غيرٍ ته اړتيا لري. په قرآن کې د يتيم د لغت ۲۳ ځله تکرار [مفرد او جمع، معرفه او نکره] په هغه تاريخي مقطع کې ددې موضوع د اهميت څرګندوی دی. له يتيمانو سره احسان، د هغوی مړول او هغوی ته انفاق کول، په ځلونو په قرآن کې توصيه شوی دی [انسان۸ (۸:۷۶)، بلد ۱۵ (۱۵:۹۰)، بقره

۸۳ (۲:۸۳) او ۱۷۷ (۲:۱۷۷) او ۲۱۵ (۲:۲۱۵)، نساء ۸ (۴:۸) او ۳۶ (۴:۳۶)، انفال ۴۱ (۸:۴۱)، حشر ۷ (۵۹:۷)]، البته دا د موضوع مادي جنبه ده، خو د مينې پاللو، د کرامت قايلېدلو، پناه ورکول او عاطفي جنبو په اړه هم قرآن نورې سپارښتنې کړې دي [فجر ۱۷ (۸۹:۱۷)، ضحی ۶(۹۳:۶) او ۹(۹۳:۹)، ماعون ۲ (۱۰۷:۲)].

۱۰ ـ نورو ته حديث کول، د داسې يو څيز ښکاره کول او بيا ويل دي چې پټ دی. لکه څنګه چې په قيامت کې ځمکه خپل معلومات او اخبار بيا وايي او ښکاره کوي « يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا» [زلزله۴(۹۹:۴)]. يهودي متوليانو به خپل مقلدان، مسلمانانو ته د تورات د حقايقو له حديث کولو منع کول«...أَتُحَدِّثُونَهُمْ بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَاجُّوكُمْ بِهِ عِنْدَ رَبِّكُمْ...» [بقره ۷۶(۲:۷۶)]. کوم نعمتونه چې لرو بيانول يې، هم د مثبت ليد نښه او د شکر او مننې احساس دی او هم نور تشويق، تحريص او هيله من کوي.